# د
# ژوند
# ترخې او خوږې

بلقیس محبوبي حقیق

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






# د ژوند ترخې او خوږې


شاعره: **بلقيس محبوبي حقيق**

چاپکال: **۱۳۹۵ل/ ۲۰۱٦ز**

چاپ وار: **لومړی**

**کمپوز: عبد الله «شاهي»**

پښتۍ ډيزاين: **فياض حميد**

خپرندوی: **د افغانستان ملي تحريک فرهنگي څانگه**

**د خپرونو لړ: (۱۲۳)**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اهداء:

زه دا شعري ټولګه خپل دردېدلي،
ژړېدلي او ځورېدلي اولس ته وړاندې کوم.

زه د هېواد د نامتو شاعر، ليکوال او ادبي شخصيت
نجيب الله منلي صاحب نه ډېره مننه کوم
چې زما پر شعري ټولګه يې د خپل
علمي نظر څرګندونه کړې ده
او ماته يې وياړ راوبخښی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تحریک یادښت

د افغانستان ملي تحریک د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریک دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریک په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په اوږدو کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریک خپله ژمنه پوره کړه او د یاد کال ترپایه یې ان (۱۰۲) عنوانه کتابونه چاپ کړل. تحریک اوس غــواړي خپل فرهنګي کار ته دوام ورکړي او دا اثر چې اوس ستاسو په لاس کــې دی، د همدې فرهنګي اثارو د لړۍ له جملې څخه دی، چې د چاپ جامــه اغوندي. ملي تحریک هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریک له ټولو هغو لیکوالــو، ژبــاړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرســته او ملګرتیــا کــړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېژندګلوي

زما نوم بلقيس او د پلار نوم مې محمد محبوب خان دی.
پلارنۍ ټاټوبی مې د کندهار ولايت او مليت مې پښتون دی.
زما خدای بخښلي پلار د خپل ژوند زياته برخه د رسمي ماموريتونو په جريان کې د هېواد په نورو ولاياتو کې تېره کړې ده، چې زه هم د پلار د ماموريت په دوره کې د بلخ په لرغوني ولايت کې دنيا ته راغلم.
زه څلور کلنه وم چې پلار مې خپل اصلي ټاټوبي يعنې د کندهار ولايت ته راغی او زه هم هلته لويه سوم.
ما له پخوا نه له شعر او شاعرۍ سره ډېره مينه درلوده، زما مرحوم ورور محمد ظاهر محبوبي به ماته د لوستلو لپاره خپل او د هېواد د نورو شاعرانو شعرونه راکول او خپله ادبي تنده مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرې ماتوله. تر څو چې ورو ورو په ما کې هم څه نا څه د شعر ویلو یعنې شعر جوړولو قدرت پیدا سو او کولای مې سوای چې د خپل زړه دردونه، آوازونه د قلم په ژبه بیان کړم.**

**زما لومړنۍ شعري ټولګه په کال (۱۳۷٦ هـ-ش) کې له چاپ نه راووتله.**

**زما لومړۍ شعري ټولګه (د زړه آوازونه) نومېږي چې زما په شخصي لګښت چاپ سوه، چې زه په دې مورد کې د محترمو دوستانو د مرستو منندویه یم.**

**زما همدا شعري ټولګه(د ژوند ترخې او خوږې) تر عنوان لاندې چې ستاسې په لاسونو کې ده، کېدی شي ځینې نیمګړتیاوط ولري، نو ستاسې قدرمنو لوستونکو څخه هیله کوم چې زما نیمګړتیاوې وبخښي. ما د شعر د لیکلو له شروع نه بیا تر اوسه له مطبوعاتو او ادبي غونډو سره د خپلې همکاریو لړۍ ساتلې ده.**

**ما په (۱۳۵۹ هـ-ش) کال له دیپلوم انجینر عبدالمنان حقیق سره واده وکړ او د واده ثمر مې درې اولادونه دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احساس او احساسات

دغـه مجموعـه چـې پـه لاس کـې مـو ده، لـه ښـکلو مورنيـو احساساتو را پنځېدلې ده.

يوه مور خپل ماشوم ته د مينې اظهار کوي او د يوې بلې مور وطن، مينه ورزده‌کـوي، عجيـب پـارادوکس دی. مـور نـه غـواړي چـې پچـې تـه يـې زحمـت ورسـېږي د ماشـوم پـه پښـه کـې يـو کوچنی اغزی د مور پر زړه د خنجر گوزار دی.

نو دا بله مور وطن بيا پالل غواړي او پالل يې قربـاني غـواړي، شاعره مور بيا خپل بچی دغه قربانۍ ته هڅوي.

احساسات او عواطف د هنري توليـد ضروري تـوکی دي او دا ضروري توکي په دې مجموعه کې شته.

نـو ځکـه پـه زغـرده ويـلای شـم چـې دا شـعرونه بـه خپـل لوستونکي او مينه وال ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو یوازې د مینه والو درلودل د سترو هنري تخلیقاتو لپاره کافي نه دي.**

**ددې لپاره چې یو هنري اثر د پنځوونکو او مخاطب د دوه په دوه له محدودې راووځي او دا هنري اثر هم لېرې ولاړ شي او هم تر ډېره پاتې شي، لازمه ده چې پنځوونکی په شعوري ډول خپل احساسات او عواطف سره راټول کړي، فکر پرې وکړي، له انفعالي حالت نه يې راوباسي او په یو رښتیني جهان بدلوونکې وسلې یې بدل کړي.**

**دلته دي چې احساسات سره یو ځای کېږي او یو احساس جوړوي چې بیا دغه احساس د هنري اثر په بڼه تنظیمېږي، مخاطب ته رسېږي، مخاطب يې په لاشعوري ډول خپلوي، خو په شعوري ډول یې تحلیلوي بېرته ترې احساسات او عواطف جوړوي.**

**د انفعالي احساساتو مستقیم مخاطب له اثره ځکه خوند اخلي چې پکې د خپلو احساساتو انعکاسي وینې خو له اثر سره د مینې کولو فرصت لاس ته نه ورځي.**

**له یو لنډ مهالي تاثیر وروسته یې فکر بل خوا اوړي. برعکس کله چې هنرمند خپل احساسات کنټرول کړي، پخوالي ته یې پرېږدي، صیقل یې کړي نو بیا په لومړي سر کې مخاطب ته د ښکلا احساس ورکوي. بیا ورو ورو دغه احساس د مخاطب په لا شعور کې تجزیه کېږي، په نویو داسې احساساتو بدلېږي چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخاطب يې خپل ګڼي.

دلتــه نــو د مخاطـب او هــنري اثــر تــر مــنځ يــوه ژوره اړيکــه پيداکېږي چې تل پاتې اغېز ښندي.

زموږ په ادبياتو او هـنر کـې تـر اوسـه د احساسـاتو تلـه خـورا درنده پاتې ده، نو ځکه مو د شـهکاري اثرونـو شـمېره هـم ډېـره محدوده ده.

خدای(ج) دې وکړي چې زموږ هنرمندان دې ټکي تـه متوجـه شي او په خپلو پنځونو کـې د احساسـاتو د انعکـاس پـر ځـای د احساس پيداکولو ته ډېر پام وکړي.

نجيب الله منلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څو خبرې

درنو لوستونکو او قدرمنو هېوادوالو!

له هر څه نه لومړی زه د پاک خدای(ج) شکر اداء کوم چې ماته يې د دې توانايي او د ژوند کولو موقع راکړه چې زه خپله دوهمه شعري ټولګه بشپړه کړم او د خپل اولس پر وړاندې څه نا څه خپل رسالت سرته ورسوم.

محترمو لوستونکو!

دا څلورمه لسيزه ده چې زموږ اولس د جنګ په اور کې سوځي، هغه جنګ چې د منطقې او نړيوالو داړه‌مارانو له خوا پر موږ تپل شوی دی.

زموږ اولس د پرديو د ګټو قرباني شو او دا چې ولې؟ زموږ ځينې وطنوال خپل وطن ورانوي او خپل ورونه وژني ددې لوی عامل بې سوادي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه د هغه چا چې زړه، سترګې او ذهن د علم په رڼا روښانه نه وي، خپل دوست او دښمن نه پېژني، غولول يې ډېر اسانه وي او هر څوک يې د خپلو ګټو لپاره استعمالوي.

پرديو داړه‌مارانو زموږ په خاوره کې د نفاق اورونه بل کړل، مليتونه په يو او بل نامه په جنګ سره اچوي، د خپلو شومو اهدافو لپاره د جنګ اور تازه ساتي، موږ او تاسې ددې اور سوځېدونکي مواد يو او بس.

که موږ لږ څه ځير سو چې موږ د چا لپاره جنګېږو؟ او ولې خپل اولس وژنو او خپل کور ورانوو؟ او موږ په دې څلورو لسيزو کې له جنګ څخه کومه ګټه په لاس راوړه؟ نو دا به راته جوته سي، چې هيڅ مو په لاس را نوړل، مګر هر څه مو له لاسه ورکړل.

د نيکونو د وياړنې ځلي مو وران کړل او خپل سر لوړی اولس مو بدنام کړ، يعنې د تروريست، دهشتګر او په هر ډول فسادونو ککړ اولس په نامه مو نړيوال پېژني، نړيوال د افغان او افغانستان له نامه څخه کرکه لري.

له بده مرغه چې افغانستان د ښه، زړه سوانده او تکړه رهبر طالع نه لري او که کله مو ښه رهبر په نصيب شي، د سيمې او نړيوالو داړه‌مارانو له خوا په يو او بل نامه بدنام او له منځه يې يوسي.

زموږ بې سالاره کاروان بېرته د غلو او داړه‌مارانو حملو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې سي، دا حالت بـه ترکومـه دوام ولـري؟ او تـر څـو پـورې بـه پردې حریص لېوان زموږ له سرونو څخه منارونه جوړوي او زمـوږ په وینو او غوښو به ځانونه پړسوي؟.

موږ به کله د غفلت له خوبه را پاڅېږو، کلـه بـه د دوسـت او دښـمن پـه مـنځ کـې توپیرونـه کـوو او کلـه بـه د خپـل هېـواد او اولسونو سره د همدردۍ احساس پیدا کوو؟

کله، کله او کله.

په دې ځای کې له خپلې همدې شعري ټولگې څخه یـو څـو بیتونه ستاسې درانده حضور ته وړاندې کوم:

راځــئ وکـړو لـه خپـل ځانـه تېوسـونه
جــاروو د چــا لپـــاره خپـــل سرونـــه
دا په وینو کې چې لغړي د چا سر دی
ولې وژنو خپلې خوینـدې او خپـل وروڼـه
دلتـــه اور د نفـــاقونو چـــا بـــل کـــړی
څوک مو اخلي پـر سرو بانـدې باجونـه
(محبوبي) وایي واکمن د خپل هېواد سئ
دښــمنانو تــه ورنــه کــړئ فرصــتونه

په داسې حساس او د مسوولیت نه ډک وخت کـې د ټـولنې هر غړی د خپـل هېـواد او اولـس پـر وړانـدې مسـؤولیتونه لـري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه انسان د خپلې ټولنې سره نه شلېدونکې اړیکې لري، په ټولنه کې هر حالت د هغې ټولنې پر اوسېدونکو مستقیم تاثیر لري، نو په دې ځای کې د قلم خاوندان هم باید خپل مسؤولیتونه هېر نه کړي، د قلم خاوندان باید خپل قلم آزاد وساتي او خپل قلم د څو مفتخورو، قدرتمندو او ناوړه کسانو په خدمت کې ونه کاروي او نه یې د هغو په ځنځیر کې بند کړي، ځکه دا د خدای(ج) او بندګانو پر وړاندې خاینانه عمل دی. دوی باید په ډاګه تور ته تور او سپین ته سپین ووایي.

بلقیس محبوبي حقیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لویه خدایه

خدایــه د امیــد طمــع مــدام لــرم لــه تــا څخــه
څه چې ستا سره دي هغـه نسـته لـه بـل چـا څخـه

ای بــې نیــازه خدایــه د نیــازمنو نیــاز پــوره کــړه تــه
ســتا خزانــې ډکــې دي لــه رحــم او ســخا څخــه

ســتا د قــدرت نخښــې مخلوقــاتو کــې معلــومې دي
ای خالقــه خدایــه! تــه توانــا یــې هــر توانــا څخــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایه ته رؤف، رحیم، رحمن یې زه یقین لرم
پاک مې د زړه کور کړه له کینې او له جفا څخه

ستا د نور ډېوه مې د زړګي په کور کې بله کړه
ډک مې کړه زړګی د پاکې مینې له رڼا څخه

کړې که مې سهوه او ګناه وي راته وې بخښه
نه دی خلاص انسان له اشتباه او له خطا څخه

وینه د انسان کې اشتباه او خطا ګډه ده
ځکه اشتباه وسوه آدم(ع) او له حوا څخه

خدایه ته د زړو مالک یې هیڅ له تانه پټ نه دي
ته خبیر، بصیر یې هیڅ پټېږي نه له تا څخه

څه چې درنه غواړم ټول سپېڅلي امیدونه دي
دا راته عطا کړه بس همدا غواړم له تا څخه

زه (محبوبي) زړه کې کرغېړنې هیلې نه لرم
پاکه مینه غواړم ستا د مینې له دنیا څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وطن مور ته

ای زمـــا گرانـــه وطنـــه        زمـــا روح او زمـــا تنـــه
ستا له ښکلي نوم څه جار سم        زمـا د پـلار نیکـه مسـکنه
څـه نـاورین پـر تـا تېرېږي        څـــه اورونـــه پـــر تـــا اوري
پر سر خـورې څـه گوزارونـه        لـه هـر چـا او لـه هـر لـوري
پاکه غېږ پاکه لمن دې تل مدام په وینـو سره ده
هم دې غر په وینو سور دی هم دې سره هره دره ده

بـــــاران اوري د بـــــاروتو        ستا پر خـړ خـاورین کورونـو
شـنې لـوخړې پورتـه کېـږي        ستا له دښتو ستا لـه غرونـو
ســـتا د بـــن پـــر بلبلانـــو        بانـــدې راغلـــل طوفانونـــه
څوک ترې والوته څوک مړه شوه        د چـــا وســـول وزورونـــه
پاکه غېږ پاکه لمن دې تل مدام په وینـو سره ده
هم دې غر په وینو سور دی هم دې سره هره دره ده

د نفـاق اورونـه بـل سـوه        په دې خاوره دې وطـن کـې
ورونـــه وژني يـــو تـــر بلـــه        د وطـــن د مـــور لمـــن کـــې
چا په نـوم د دوسـتي راکـړه        خپل اغزین، اوریـن لاسـونه
څوک ښکاره راباندې کاندي        گوزارونــــــه او وارونــــــه
پاکه غېږ پاکه لمن دې تل مدام په وینـو سره ده
هم دې غر په وینو سور دی هم دې سره هره دره ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زما او ستا به غم کې نه دي　　دلته جنگ د زوراورو**
**مورږ پایمال، وطن غوبل سو　　دلته جنگ د ښکرورو**
**خدای ته گورئ وطنوالو　　له نفاق څه لاس په سر سئ**
**ټول یو موټی یو قوت سئ　　ټول راټول په یو ټغر سئ**
**د وطن د مور لمن مو تل مدام په وینو سره ده**
**هم مو غر په وینو سور دی هم مو سره هره دره ده**

**د وطن و آبادۍ ته　　ثنگ په ثنگ سئ خوا په خوا سئ**
**دې مړ ژواندي خوار اولس ته　　یوه ساه د مسیحا سئ**
**ټول ملیت که یو ملت سي　　یو یې زور یو یې قوت سي**
**هر قوي دښمن به مات کړي　　که په برخه یې وحدت سي**
**د وطن د مور لمن مو تل مدام په وینو سره ده**
**هم مو غر په وینو سور دی هم مو سره هره دره ده**

**د پوهنې مشعل واخلئ　　تور گوټونه پرې رڼا کړئ**
**دلته جوړ ثاني جنت کړئ　　په حیرت ټوله دنیا کړئ**
**(محبوبي) وایي راپاڅئ　　له پردي دام نه بهر سئ**
**ساتندوی د خپل وطن سئ　　د دښمن په مخ کې سپر سئ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سولې ناوې ته به کله راځې؟

مــوږ دې کــوو انتظارونــه تــه بــه کلــه راځـــې؟
راځــه را تېـر دې کـړه ګامونـه تـه بـه کلـه راځــې؟

د ســـولې نــاوې عاشــقان دې د راتلــو پــه طمــع
پــر ګوتــو شــمېري ســاعتونه تــه بــه کلــه راځــې؟

د راتلــو لار بــه دې جــارو کــړو د بڼــو پــه څوکــو
ږدو تــر قــدم لانــدې دې زړونــه تــه بــه کلــه راځــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاړه ځوانـان او ماشـومان سـترګې پـه لار دي درتـه
لنــډ کــړه ترخــه انتظارونــه تــه بــه کلــه راځـــې؟

لاس پښې وهو د جنګ له بحر څه وتلای نه سو
کـــوو ناکامـــه کوششـــونه تـــه بـــه کلـــه راځـــې؟

زموږ د جنګونو جل وهلو دا وروستۍ سلګۍ دي
راکـــړه د ســـولې شربتونـــه تـــه بـــه کلـــه راځـــې؟

د جنـګ دېـو راغـی لوټـول، وژل، داړل يـې وکـړل
راسه ترې پرې يې کړه لاسونه ته به کله راځې؟

راســه تــه ســاه د مســيحا يــې اې د ســولې نــاوې
مــړو تــه ورکــړه نفســونه تــه بــه کلــه راځـــې؟

شغلې د مينې او وحدت په موږ خپرې کړه سولې
رڼـا رڼـا کـړه تـور تمونـه تـه بـه کلـه راځـې؟

(محبـوبي) وايـي تـه مـو بوځـه د نجـات ساحل تـه
تـا تـه معلـوم دي ګودرونـه تـه بـه کلـه راځـې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انتظار

ستا وعدې را رسېدلې ته رانغلې
زما ډېر یادېدلې ته رانغلې

زړه ګوګل کې بې قرار و ستا لیدو ته
دواړه سترګې ژړېدلې ته رانغلې

ترمې اوښکې مې له سترګو تویېدلې
ګرېوانه ته څڅېدلې ته رانغلې

ستا د دید په طمع طمع عمر تېر سو
د ژوند شپې مې کمېدلې ته رانغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې بدلې په هفتو هفتې په میاشت سوې
میاشــتې کـال تــه رسـېدلې تــه رانغلــې

انتظــار شــېبې ورو ورو پســـې اوږدېــږي
ســـلګۍ ورو ورو زیاتېـــدلې تـــه رانغلـــې

زمــا د هیلــو غــوټۍ ورو مــړاوې کېــدلې
تــورو خــاورو کــې لوېــدلې تــه رانغلــې

بیــا دې څــه کـوم کـه راسـې کـه رانسـې
زمــا چــې ســترګې پټېــدلې تــه رانغلــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کندهار ته

ګــــران کنــــدهاره د زړه ټکــــوره
د زړګــــي سره د ســــترګو تــــوره
مــــولا دې ســــاته لــــه آفتونــــو
د ابــــداليانو د غيــــرت کــــوره

ګــــران کنــــدهاره د زړه قــــراره
تــر تــا لــوګی ســم پــه څــو څــو واره
ســتا خــړ کورونــه ماتــه قصــرونه
د پــلار نيکونــو خــوږه يادګــاره

ګــران کنــدهاره ډېــر مــې يــادېږې
ډېر مــې تــر سترګو تــر سترګو کېــږې
زړګــی مــې ډک دی ســتا لــه يــادونو
نــه بــه دې هېــر کــړم نــه مــې هېرېــږې

بــاتورو ورونــو يــو روح او ځــان ســئ
د پــلار نيکونــو پــر لار روان ســئ
دښمنان ورک کــړئ لــه خپلــې خــاورې
د غليمانــو پــر ســر طوفــان ســئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خوږې خبرې

راسه چې وکړو څو خوږې خبرې
ډېر مو واورېدې ترخې خبرې

که ستا گناه وه او یا زما خطا وه
نورې به هېرې کړو زړې خبرې

گیلې مو ډېرې له یو بل څه وکړې
راځه چې پرېږدو د گیلې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لحظــې د عمــر پــه شــتاب تېرېــږي
نــه دي پــه کــار دومــره اوږدې خــبرې

خلک بـه هـر څـه هـر څـه وایـي آشـنا
مــه یــادوه د هــرې خــولې خــبرې

پــه قاصــدانو بــې بــاوره ســومه
راځــه چــې وکــړو لــه نــژدې خــبرې

مـا وې چـې تـه بـه لـه مانـه ځـورېږې
تــه مــرور ســوې پــه وړې خــبرې

خولې خاورې کېږي خو یادګار پاتېږي
د چــا خــوږې د چــا ترخــې خــبرې

(محبـوبي) ژبـه پټـه خولـه کـې سـاته
یـا پـرې کـوه خـوږې پسـتې خـبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتونخوا پښتون ته!

کــه تــه دلتــه يــې يــا هلتــه يــې پښــتونه!
لـــــرم ســـــتا سره د مينـــــې پيوندونـــــه

زمـــوږ رګونـــو کـــې يـــوه وينـــه بهيـــږي
خيـــر دی دا کـــه مختلـــف يـــې وي ګروپونـــه

احمدشاه، ميرويس، اجمل، که خوشحال خـان دی
ټــول د يــو بابــا لمســيان بيــل يــې نومونــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښــــتانه ټــــول د پښـــــتو د بـــــڼ گــــلان دي
پـــرې ښايســــته ده د آســـيا د زړگــــي خونــــه

کنـــدهار، کـــه ننگرهــــار يــــا پښــــتونخوا ده
دغــــــه واړه د يــــــوې ونــــــې ښــــــاخونه

خير دی ته که د سيند يو خوا زه بل خـوا يـم
زمــــوږ و يــــو بــــل تــــه رســــېږي آوازونــــه

د غـــرض خاونـــده بېـــل بـــه سره نـــه کـــړې
دا د مينـــــې پـــــه تــــارو تـــــړلي زړونـــــه

زمــوږ د مينــې وړانگـــې وځـــي لـــه فـــولاد نـــه
تـــه مـــو مـــخ تـــه ږدې د ختـــو دېوالونـــه

(محبــوبي) وايـــي راځـــئ چــې سره يــو ســو
دښـــمنانو تـــه ور نـــه کـــړو فرصــــتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ځوانۍ پسرلی

د ځـوانۍ بهـار مـې تېـر سـو پـرې پـوه نـه سـوم
لویـه لار وه تېـر او بېـر سـو پـرې پـوه نـه سـوم

لا مـې ګـل ټـول کـړي نـه وو د ژونـد بـاغ کـې
چـې خـزان ترېنـه چـاپېر سـو پـرې پـوه نـه سـوم

نـه پـوهېږم خنګـه رنـګ خنګـه یـې خونـد و
د ځـوانۍ لـذت مـې هېـر سـو پـرې پـوه نـه سـوم

لکـــه لمـــر د مـــازدیګر چـــې ژر پرېـــوځي
د برېښـنا پـه شـانې تېـر سـو پـرې پـوه نـه سـوم

د ځـــوانۍ هـــوا هـــوس رانـــه پـــردي ســـوه
خوښـي ولاړه غـم مـې ډېـر سـو پـرې پـوه نـه سـوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناقراره ژوند

ولـــې دا زمـــا نـــاقرار ژونـــد لـــره قـــرار نســـته
غـم چـې پـرې غلـط کـړم داسـې ګـل داسـې بهـار نسـته

چاتــه زړه نــژدې کــړم او پــه چــا بانــدې بــاور وکــړم
نســته داســې دوســت، داســې آشــنا او داســې يــار نســته

بـــار د ژوندانـــه ډېـــره ســـتومانه ســـترې کـــړې يـــم
زړه مـې نـاقرار دی پـه هـيڅ ځـای کـې مـې قـرار نسـته

زه پــه دې زخمــي زړه لــه هــر لــوري ګوزارونــه خــورم
زمـــا د رنـــځ طبيـــب او د زخمونـــو پرســـتار نســـته

هـر خـوا تـه چـې ګـورم هـر توانـا د ځـان پـه فکـر دی
هېڅـــوک هـــم پـــه فکـــر د بېوزلـــو او د خـــوار نســـته

نـــن د فرېبونـــــو او چلونـــــو بـــــازار ګـــــرم دی
هـــېڅ د صـــداقت د مرغلـــرو خريـــدار نســـته

هر څوک هـر څـه وينـي خـو څـوک ژبـه خوځـوای نسـي
خولــه کــې ژبــه ســته خــو د خــبرو ورتــه وار نســته

نـه پرېږدي څـوک غـوږ تـه (محبـوبي) نـن حقيقـت ويـل
نـــن د حقيقـــت د متـــاع قـــدر پـــر بـــازار نســـته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان وطنه

نــه مــې هېرېــږې د زړه سره مــا تــه گــران وطنــه
افغانســتان وطنــه

د سترگو تور يې زما، د زړه ټکور يې زما، د بازو زور يــې زمـا
ســتا سـپېرې خـاورې بـه ورنـه کـړم پـه جهـان وطنـه
افغانســتان وطنــه

ستا هره پېغله ملالۍ او هر زلمـی دې اتـل د غليمانـو اجـل
مــور بـــه کـــړي بـــوره د غلـــيم پـــر خانـــدان وطنـــه
افغانســتان وطنــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د سيندونو په ځپو کې آوازونه وو عجب خوندونه وو
پر گودرو به دې قطار وو شنه منگيان وطنه
افغانستان وطنه

شنه چمنونه شنې شنې ونې شنې د غرو لمنې پکې کېږدی وې پلنې
پر شنو ښاخو دې زنگېدله شنه طوطيان وطنه
افغانستان وطنه

زه د پردي وطن ښکلا او بنگلې څه کوم د هجرت شپې څه کوم
ستا خړ خاورين کورونه سم قربان وطنه
افغانستان وطنه

چې ستا و خاورې ته اوږده د چا لاسونه سوه غوڅ ترې سرونه سوه
ستا دښمنان دې ستا د خاورې په ارمان وطنه
افغانستان وطنه

ستا د هجرت په رنځ رنځوره یم اوسېږم دلته شپه ورځ کړېږم دلته
د (محبوبي) د زړه درونو ته درمان وطنه
افغانستان وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپل عمل د لارې مل

گیلــه مــه کــوه مــدام لــه یــو او بلــه
هر څوک ویني هر هر څه له خپـل عملـه

چې کرلي دي هر څه وو اوس يې درو کړه
خپــل کــرلي دې تــه وربېــه پــه خپلــه

د گنــاه پېټــى د بــل پــر اوږو مــه ږده
خپــل بــار ورســوه خپلــه تــر منزلــه

کــه وفــا غــواړې وفــا بــل سره وکــړه
کــه جفــا کــړې وفــا مــه غــواړه لــه بلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تــه بـل پـه غشــو ولـې پـه دې پـوه سـه
چــې همــدا غشــی راځــي ســتا تــر محلــه

که ته وايې زه به بد کړم بل دې ښـه کـړي
دا ارمــان بــه دې پــوره نــه سي زمــا ګلــه

نسته څوک چې ته به بد هغه به ښه کړي
تپـــوس وکـــړه کنـــدهار نـــه تـــر کابلـــه

چې اغزي کرې لونګ څنګه تـرې غـواړې
هر يـو بـوټی خپـل ثمـر نيســي پـه خپلـه

ســـتا د ږغ انعکـــاس تاتـــه را رســـېږي
تـــا چـــې وويـــل هغـــه دې واورېدلـــه

د عمـــل آينـــه دې ونيســـه و مـــخ تـــه
تــه بــه خپلــه څېــره ووينــې پــه خپلــه

و ګفتـــار تــه دې جامــه د عمــل ورکــړه
تـــش ويـــل (محبـــوبي) مکـــوه هيڅکلـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هجرت اختر

اخـــتر ســـو خلـــک نـــوي لباســـونه جـــوړوي
د مینـــــې او خوښـــویو محفلونـــــه جـــــوړوي

زما پر زړه اوربړي له هـر خـوا د هجـر غشـــي
زخمي زړه کې مې بیـا نـوي زخمونـه جـوړوي

اختر به څه کړم هر څه ته چې ګورم تـول پردي دي
پـــردو سره زړه کلـــه سازشـــونه جـــوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رایاد سوه د وطـن خـوارږه او ښـکلي اخترونـه
هـر یـاد یـې زمـا پـه زړه کـې داسـتانونه جـوړوي

څپېړې پر مخ خورم د حقـارت لـه هـرې خـوا
پـه زړه کــې مــې د کرکــې طوفانونـه جـوړوي

وطن مې د پردو پـه لاس بـدل پـه کنـډوالو سـو
پــردي یــې ورانېــدو لــره پلانونــه جــوړوي

مېلې د اخترو چې جوړېدې پـه هغـه ځـای کـې
اوس هلتــه و ځوانــانو تــه قبرونــه جــوړوي

پترې مې شونډو ونیـول خنـدا سـوه راڅخـه ورکـه
له سترګو نه مـې اوښـکې سـېلابونه جـوړوي

اختره! تا خو زېـرى د خوښـۍ ورتـه رانـه وړه
نـو ځکـه (محبـوبي) د غـم بیتونـه جـوړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوند بهیر

لحظـــې د عمـــر پـــه شـــتاب تېرېـــږي
لکـــه اوبـــو کـــې چـــې حُبـــاب تېرېـــږي

پـر چـا پـه خونـد او پـه خوښـۍ تېرېـږي
پـــر چـــا پـــه غـــم او اضـــطراب تېرېـــږي

چاتـــه شراب، کبـــاب، پلـــو رســـېږي
پـــر چـــا لـــه لـــوږې نـــه عـــذاب تېرېـــږي

پـر چـا پـه تـوره تروږمـۍ کـې تېـر سي
پـــر چـــا روښـــان لکـــه آفتـــاب تېرېـــږي

کـــاروان د ژونـــد پـــه بیـــړه درومـــي
لکـــه هـــوا کـــې چـــې عقـــاب تېرېـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حضـــــور دم دې غنيمـــــت وګڼـــــه
چـــې هـــر نفـــس دې پـــه حســـاب تېرېـــږي

تلـلـي پـه يـاد کـړه چـې څـه وو او څـه سـوه؟
ســتا هــم پــه دې کتــاب کــې بــاب تېرېــږي

چـــا چـــې بشـــر تـــه خدمتونـــه وکـــړه
دې آزموينـــه کـــې کاميـــاب تېرېـــږي

څـوک چـې را ويښ سـوه تـرې واخيسـت ثمـر
پـر چـا ژونـدون پـه خيـال او خـواب تېرېـږي

هــر يــو پــه وار د مــرګ و کــومي تــه ځــي
هـــر يـــو پـــه وار تـــر دې آســـياب تېرېـــږي

د شـــعر شربـــت (محبـــوبي) کېـــږده لار کـــې
چـــې هـــر يـــو تـــږی تـــرې ســـېراب تېرېـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وحدت په لور بلنه

فیصـــلې ولـــې پـــه جنگونـــو کـــوئ
جنـــگ پربـــادي او تبـــاهي راولي
لانجـــې پـــه ســوله ولــې نــه خلاصــوئ
ســـوله ملـــت تـــه ســـوکالي راولي

د خـــدای لپـــاره سره یوســـئ ورونـــو
د وطـــن مـــور درنـــه خفـــه ښـــکاري
گرېـوان یـې خیـرې سر یـې لـوخ وینمـه
و ټـــول جهـــان تـــه شرمنـــده ښـــکاري

وجـود یـې ټـول سـوری سـوری پـه گـولۍ
پـــر سر یـــې اوري د مرمیـــو بـــاران
ویـــالې د وینـــو تـــرې روانـــې هـــر خـــوا
بانـدې راټـول دي لـه هـر خـوا ټپوسـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وطــن مــور بانــدې لــړ ننــګ وکــړئ
د احمدشـــاه او میـــرویس خـــان بچـــو
د مـــور پــوړنۍ پـــر بـــل مـــه خرڅـــوئ
د خـــــدای لپـــــاره د افغـــــان بچـــــو

غلــیم تــه لار پــه کــور کــې مــه ورکــوئ
پـــه زوړ دښـــمن اعتبـــار ولـــې ســـاتئ؟
کاڼی په پوست دښمن به دوست نه سي
خپلـو لسـتوڼو کــې مــار ولــې ســاتئ؟

د (محبـــوبي) زړه بـــه آرام سي هلتـــه
چـــې ستاســـې مـــنځ کـــې اتحـــاد ووینـــم
چـــې دښـــمن وشـــړئ لـــه خپلـــه کـــوره
تاســـې پـــه خپـــل ملـــک کـــې آزاد ووینـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا دنیا

خدایه که ستا په دې دنیا کې نعمتونه ډېر دي
خو ورسره بیا هم غمونه هم دردونه ډېر دي

د پیدایښت نه انسان ژاړي چې دنیا ته راسي
ځکه په مخ کې سخت سفر او کړاوونه ډېر دي

د سترګو رپ کې ورنه تېر سي پسرلی د ژوندون
ژوند کې چې ډېر دي د خزان ساړه بادونه ډېر دي

په لذتونو د ژوندون باندې پوه نه سي انسان
د ژوند ډګر کې خوښي لږه ده او غمونه ډېر دي

ګومان مې نه سي چې به څوک خوښ له دنیا نه درومي
د هر هر چا زړه کې نیمګړي آرمانونه ډېر دي

غوټۍ د هیلو ځنې ګل سي ځنې ورژېږي
د ژوند په باغ کې بهار لږ او خزانونه ډېر دي

لاس دې تر زنې لاندې مه ږده څه په لاس نه درځي
څه د هدف په لور په مخ کې دې مزلونه ډېر دي

څه د مثبت هدف په لور چې درنه وخت تېرېږي
که ژوندون لنډ دی (محبوبي) خو فرصتونه ډېر دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مناجات د خدای دربار ته

لويــه خدايــه لــه غمــو څــه حفاظــت را
غمجن زړه ته مې سکون را او مســرت را

ســتا دربــار تــه مــې لاســونه لپــه کــړي
ســتا کــرم راتــه عطــا کــړه مرحمــت را

آل اولاد مــې ســتا پــر نېکــه لار روان کــړه
ورته توان د نېک خويونو، نېک خصلت را

زموږ په زړونو کې ستا پاکه مينه ځای کړه
د شـيطان لـه وسوسـو څخـه خلاصيت را

ستا د رحـم دروازې کـړه پـر مـوږ خلاصـې
لـــه بـــلا او آفتـــو څـــه حفاظـــت را

دا د فيض او برکت څه ډکـه مياشـت ده[1]
خوشــحالي هــم د دنيــا هــم آخــرت را

(محبــوبي) نــا اميــد مــه شــړه لــه دره
ســـتا لـــه دره زمـــا دعـــا تـــه اجابـــت را

[1]- د روژې مبارکه مياشت/ ۱۳۹۳- امريکا، ويرجينيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مخلص یار پېژندنه

نسته داسې څوک چې د زړه غوټۍ ورته واکړمه
درد باندې دردمنه خپل عزیز او خپل آشنا کړمه

مـــا لـــه زمـــانې څخـــه لرلـــه د وفـــا طمـــع
نـــن دې جفـــا کـــاره زمـــانې تـــالا والا کړمـــه

زړه بانـدې مـې بـار دی د دردونـو او غمـو پېټـی
چانـه مرسـته وغـواړم او کـوم درد مـې دوا کړمـه

زړه مـې زخـم زخـم د زمـان لـه ګـوزارو څـه دی
کوم طبیب ته ورسـم او پـه چـا زخـم شِـفا کړمـه

ګرځـې هـرې خواتـه ډلـې ډلـې مطلبـي یـاران
زه دې مطلبي ښار کې مخلص څنګه پیدا کړمـه

ټګـه زمانـه ده مخلصـان پـه شـمار د ګوتـو دي
څنګـه مخلـص وپېـژنم څنګـه یـې جـلا کړمـه

وآزمایـه یـار د مشـقت او مصـیبت پـه وخـت
زه بـه (محبـوبي) آسـانه لار درتـه پیـدا کړمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستا بېلتون

سر مـــې اېښـــی د فکرونـــو پـــه زنگـــون دی
تـه چـې ولاړې بـې لـه تـا مـې څـه ژونـدون دی

خلــک خانــدي خوشــحالي کــړي هوســېږي
زمــا زړه لــه غمــه ډک حــال مــې زبــون دی

د غمـــو پېټـــی مـــې ورځ پـــه ورځ درنېـــږي
نــن مــې غــم ډېــر تــر پــرون او لا پــرون دی

کړاوونـــــو او دردونـــــو کـــــړم ناتوانـــــه
داغ پــر زړه او قــد مــې خــم لکــه د نــون دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا غمونه مې په زړه کې مېلمانه سوه
نه به ووځي نه زما ترېنه خلاصون دی

په هر دم په هر قدم را سره مله دي
که دې تېرې خاطرې که دې بېلتون دی

نه آرام لرم په کور نه په بهر کې
فکر وران، عقل یاغي، حال د جنون دی

زما د هیلو کښتۍ ولاړه طوفاني سوه
نن مې حال د هر غمجن تر حال محزون دی

(محبوبي) نا امید مه سه په ژوندون کې
ستا تر غم د کردگار کرم افزون دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما اولس او دا اولس

دلته څه پاکه هوا ښکلې فضا ده
هره خوا په ګلو پټه شنه بېديا ده

دا اولس دی څومره غرق په نعمتو کې
د خوښيو ورته مخ د غمو شا ده

نه د توپ نه د راکټ ږغونه اورمه
نه يې جوړه له وطن څه کربلا ده

زما بدمرغه اولس سوځي په لمبو کې
نه پوهېږم دا د کوم عمل جزا ده

درې لسيزې مو پر سر باندې اور بل دی
نړۍ زموږ د سوځېدو په تماشا ده

زموږ وطن د جنګ ميدان سو د هاتيانو
د هاتيانو تر پښو لاندې څه بقا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله ځان د يو ښامار له خولې نه خلاص کړو
بل ښامار خوله خلاصه کړې بله خوا ده

هــره ورځ مـــو زېـــړوي نـــوي غمونـــه
نـن غمجنـه تـر پـرون، تـر نـن سـبا دی

په تقسيم کـې مـو پـه برخـه سـوه غمونـه
د قسـمت برخـه مـو خـواره تـر هـر چـا ده

د پرديـو پـه لمسـون بانـدې تبـاه سـوو
مــوږ کـــې ګـــډه د نفـــاق تـــوره بـــلا ده

دلتـه خلـک يـو د بـل پـه درد دردمـن دي
زمـا اولـس نيـولې يـو بـل تـه سـلا ده

خدايه! سوله او وحـدت وطـن کـې غـواړم
(محبـــوبي) دې د عطـــا پـــه تمنـــا ده

ويرجنيا- امريکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تېر يادونه

په زړه کې مې نن تېرې خاطرې ځي او راځي
په ياد کې هغه تېرې زمانې ځي او راځي

خواږه خواږه ياران، خواږه وختونه خوږ بانډار ؤ
په خيال کې د يادونو سلسلې ځي او راځي

پر زړه مې نن اورېږي هغه تللي تللي خلک
له سترګو مې د اوښکو فوارې ځي او راځي

چې کله د سوچونو په درياب کې ځان لاهو کړم
پر زړه له غمه ډکې اندېښنې ځي او راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه ورونــه چــې بېرتــه کــړم د غشــو پــه نظــر
د سرو وینو له ډنډ څه سرې ویالې ځي او راځي

تم ځای دی د پردېسو دلته څوک نه پاتې کېږي
د ســترگو پــه یــو رپ کــې قــافلې ځــي او راځــي

نېکمرغه هغه څوک دي چې يې نوم په نېکۍ ياد سي
زمــان پــه تېرېــدو دی زمــانې ځــي او راځــي

له ژوند څه شکوه مکړه (محبوبي) هـر څـه تېرېـږي
په ژوند کې هم ترخې او هم خوږې ځي او راځي

نــن بیــا غمونــه ولــې پلټــې د زړه آرشــيف کــې
پــر ژبــه دې غمگینــې ترانــې ځــي او راځــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خوب فرښته

آينــه مــې د زړه پټــه د ژونــدون پــه غبــارو کــې
تېرومــه شــپې او ورځــې د اغزيــو پــه سرو کــې

پر زړګي باندې مې بار دي د غمونـو درانـده پېټـي
نه يې وړای نه يې زغمی سم ورکه يـم فکـرو کـې

قد مې خم لکـه د نـون سـو د غمونـو داغ پـه زړه کـې
رڼا نه وينم په سـترګو بـس اوسـېږم پـه تيـارو کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې د خوب فرښتې راسه ستا په غېږ کې مې دمه کړه
جګې جګې درنه جار سم ځاى به درکړمه لېمو کې

څو شېبې مې کړه آرامه دا غمونه رانه هېر کړه
زما د زړه بلبل بندي دى د غمو په پنجرو کې

لږ د تېر وختونو خوا ته د غمونو د غره شاته
ما له ځانه سره بوځه په پستو پستو وزرو کې

ما له ځانه سره بوځه له دې ځايه لرې لرې
لږ دمه رالره راکړه د آسمان په کنارو کې

هار د ستورو راته جوړ کړه چې مې ژوند رڼا رڼا شي
نېک تعبير به د خوب وکړي (محبوبي) په ويښېدو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مرغلرو امېل

د هغــه کــس پــر حــال وکانــده ژړا
چــې پــه فکــر نــه د ځــان وي نــه د چــا

هــم د بــل پــه فکــر اوســه هــم د ځــان
تــه د بــل رنــځ تــه دوا ســه بــل بــه ســتا

د نــن کــار پــه نــن کــوه ســبا دې نســته
نــن حاصــل کــړه خپــل مقصــد او مــدعا

فرصــتونه کــه عبــث لــه لاســه ورکــړې
ډېــر ارمــان او پښــېماني بــه وکــړې بيــا

د ژوند هر دم غنيمت دی په دې پوه سه
دُر، گــوهر لــه لاســه مــه باســه وړيــا

په هر ځای کې دې آبرو او عزت ســاته
چــې آبــرو لــه لاســه ورنــه کــړې آشــنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغلـــره پـــه آبـــرو وي قدرمنـــه
بـــې آبـرو لکـه سـپین کـاڼي د دریـا

ځان د بل پر اوږو بار نه کړې هېڅکله
څو چې توان لرې ستومانه کـړه هوسـا

حیـوان گـوره د بـل بـار وړي تـر منزلـه
خو خپل ځـان نـه بـاروي د بـل پـه شـا

ځانته ځای د خلکو زړونو کې پیدا کړه
بیـا نـو ځـان گڼـه د ټـول جهـان پاچـا

که دې ځای په زړو کې نه و یک تنها یې
کـه دې ډکـه وي لـه خلکـو هـره خـوا

که دې نن تر پرون ښه و پـه دې پـوه سـه
چـې تـر نـن بـه دې روښـانه وي سـبا

(محبـوبي) ټولـه دا سـتا لپـاره وایـم
زمـــا نســـته بلـــه بلـــه مـــدعا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جنګ اور

تـورې وریځـــې طوفانونــه خــونړي خــړ ســېلابونه
زمـوږ پـر ملـک بانـدې خپـاره سـوه ورانـوي آبـاد کورونـه

خوښــي ورکـه سـوه ژړا ده پـه هـر کـور د غـم نـارې دي
لـه هـر کـوره څـه راوځـي سـوي سـوي فریادونـه

د باروتو پـه لمبـو کـې زمـوږ سر او مـال سـوځېږي
پورته کېږي مو له ملکه سرې لمبې او تـور دودونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومان جنګ کې پيدا سي بيا د جنګ په اور کې سوځي
وايي نه خسته له ژونده هيڅ خوښي او لذتونه

په نامه د آبادۍ چې څوک راغلي دي و طن ته
آبادي يې هدف نه ده، لري خپل خپل مقصدونه

د غفلت له خوبه ويښ شئ دا هم هغه زوړ دښمن دی
تښتولي زموږ پلرو وو رانه اخلي کساتونه

موږ په تللو باندې وياړو خپله هيڅ نه يو هيڅ نه سوو
باتوران د خپل زمان وو که مو پلار وو که نيکونه

امانت د پلار نيکونو راته پاتې دا وطن ؤ
وطن پلورو پر پرديو وژنو خپل سکني ورونه

څومره ځای د خجالت دی ژوند مو ډک له پېغورونو
د پرون ګيدړ زمری سو او کوي راته ګواښونه

(محبوبي) ساتلی نه سم دومره غم د زړه په کور کې
د قلم په وړه ژبه وايم خپل د زړه حالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نه پوهېږم

بيــا مـــې څـــه پـــر زړه تېرېـــږي نـــه پـــوهېږم
زړه مـــې ځـــي رانـــه ډوبېـــږي نـــه پـــوهېږم

د غــم وريځــې مــې پــر زړه بانــدې خپــرې ســوې
لـــه لېمـــو اوښـــکې بهېـــږي نـــه پـــوهېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غلیم ته

نــن پــر مــا غلیمــه مــه کــږه غورځنګونــه
چـــې ســـبا بیـــا درنـــه اخلـــم کســـاتونه

کــه هــر څــو زمــرى لــه پښــونه وي لوېــدلى
پــه تــش ګــواښ لــه ګیــدړانو بــاسي زړونــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راسه ورکړو و یو بل لره لاسونه

راســه ورکــړو و یــو بــل لــره لاســونه
لــرې لــرې کــړو لــه منځــه دېوالونــه

لا تــر څــو بــه تــه جــدا، زه بــه جــدا یــم
راځه راسه چې شریک کړو سره زړونه

غلیمانــو تــه جــدا، زه یــې جــدا کــړم
زه او تـــه یـــو د یـــوه پـــلار اولادونـــه

تــا پــه مــا وژني او مــا بیــا پــه تــا وژني
غلــیم نــه کــوي پــر مــا او تــا رحمونــه

راځه راسه د دښــمن لاســونه لنــډ کــړو
جنګــوي د خپــل هــدف لپــاره ورونــه

خپل وطن یې ځان ته جوړ ثاني جنت کړ
ورانـــوي پـــه مـــا او تـــا د بابـــا خونـــه

پښـې زموږ پر سرو ږدي او جګوي ځان
لــه پلــرو نــه یــې زده کــړي دا چلونــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه او تـه پـه يـو او بـل نامـه جـدا سـوو
و دښــمن لــره مــو ورکــړه فرصــتونه

ولــې ولــې پــه رڼــو ســترګو ويــده يــو
په لستوڼو کـې سـاتو ځـان تـه مارونـه

موږ ويده يو د غفلت تر تلتـک لانـدې
غلــيمان مــو پــر سرو کــوي غوبلونــه

که د جهل نقاب لـرې کـړو لـه سـترګو
رامعلوم بـه سي د خپـل عمـل زيانونـه

که په يو لاس قلم بل کې خنجر واخلو
پـه اخـلاص ورکـړو يـو بـل لـره لاسـونه

نه د ښمن را رسـيدای سي زمـوږ تـر کـوره
نه به جوړ کړي راته کور کـې دوزخونـه

که په نـور د علميـت سـترګې رڼـا وای
(محبوبي) پر موږ به نه وای تـور تمونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رشوت خور ته!

رشـوت خـوره! آلـوده دې کـړ ځـان ولـې؟
په پیسو باندې دې خرڅ کړ ایـمان ولـې؟

پـه خولـه لافـې د تقـوا او صـداقت کـړې
درنـه هېـر سي د عمـل پـر میـدان ولـې؟

نــه ویرېــږې د وجــدان لــه محکمــې نــه
ځان ته ګټه غـواړې بـل تـه نقصـان ولـې؟

خزانــې دې کړلــې ډکــې لــه حرامــو
سـاتې ځـان تـه ښـاماران او مـاران ولـې؟

د حلالـې نفقـې پـه خیـال کـې نـه یـې
لــه حرامــو ډکــوې دســترخوان ولــې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بـل عیـب لـره پـه غټـو سـترګو ګـورې
و خپل عیب ته دې ړانده سوه چشمان ولې؟

چــې مقــام لــرې د هغــو اطاعــت کــړې
په بې وزلو بانـدې نـه کـړې پرسـان ولـې؟

ته چې خورې د وروڼو غوښــې نـه مړېـږې
بیـا دې څـان بـولې کامـل مسـلمان ولـې؟

د لېـوه غونـدې حملـې وهــې هـر لـور تـه
ټیټــوې اوچــت مقــام د انســان ولــې؟

تـا د زړه کعبـه چټلـه پـه څـه شـان کـړه
دا ســاتې پــه صــومعه کــې بُتــان ولــې؟

هـر څـه پـاتې دي او يـو کفـن بـه يوسـې
پــه دوه لاســه ټولــوې ډالــران ولــې؟

(محبـوبي) دې و دې کـار تـه يـم حيرانـه
په عمل باندې دې نه يـې پښـېمان ولـې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يتيم ماشوم

دا يتيم دی نه يې پلار سته نه يې ورونه
لار کې ناست له هر چا غواړي خيراتونه

وچې شونډې، سپېره مخ او پښې يې لوڅې
په اميد وړاندې کوي واړه لاسونه

په غرور کې هر څوک ځي ترېنه تېرېږي
نا اميد چې سي له خولې باسي آهونه

د هر چا د قدم خاورې پرې بادېږي
پر ښايسته مخ يې پراته سپېره گردونه

نه قلم نه يې کاغذ په لاس کې ونيو
وږي خېټه ترېنه غواړي خوراکونه

کوم ظالم صياد ترې ښکار خواره دوستان کړه
چا ترې واخستل د ژوند ښکلي نعمتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هک حيران يـوازې پـاتې سـو ميـدان کـې
چاتـه ولاړ سي او پـر چـا وکـړي عرضـونه

دا د چــا د گنــاه پېټــی ور پــه سر شـــو
چـــې پـر سر وړي د اغـزو درانـده بارونـه

دی بـه هـم د چـا د دواړو سـترگو تـور و
ده بـه هـم کـول پـر چـا بانـدې نازونـه

دی بـه هـم د کـوم يـو بـاغ د ونـې گـل و
خـــو پـــرې راغلـــه طوفانونـــه خزانونـــه

گـل لـه ونـې ونـه بـاغ څخـه جـدا سـوه
نيمـه خـوا سـوې ټـولې هيلـې ارمانونـه

(محبوبي) څوک چې په خوار زور آزمايي کړي
لـه اسـمانه دې پـرې پرېـوځي تندرونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما خوږې مورې!

هېره به مې نسې په کلونو زما خوږې مورې
ستا په بېلتانه کې تېرومه ورځې شپې مورې

ستا د هجر مار د زړه پر سر باندې خوړلې یم
ځي مې له لېمو څخه د اوښکو فوارې مورې

هر څه هېروی سم خو ستا مینه هېروی نه سم
نه مې ځي له یاده ستا خوږې قیصې مورې

زه دې د صحبت او بیا لیدو په انتظار ومه
نه وم انتظار ستا د تابوت او جنازې مورې

بار د هجر درونډ سو مورې ستا په دې ناتوان زړګي
سر دې له زړګي نه سوې د وینو فوارې مورې

ډک زړه له دردونو سره ولاړې له دنیا څخه
یو دې وړې لحد ته د دردونو خاطرې مورې

هغه وخت ړنده سوم او په سترګو مې څه نه لیده
غوږ ته چې مې راغلې ستا د مړینې انګازې مورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګو دې د مرګ وخت کې ځارل د راتلو لار د چا؟
سترګې دې کږې وې په طرف د دروازې مورې

څه ويل دې غوښته خو مرګي دې ژبه بنده کړه
پاتې سوې پر ژبه نا ويلې کليمې مورې

ما دې لار ځارل د اميدونو د کړکۍ څخه
ستا بېلتون مې وشنيدل په سترګو کې ايرې مورې

زما ټول اميدونه، ټولې هيلې نيمه خوا سولې
بېرته نااميده راغلم ستا تر هديرې مورې

ستا له نوم څه جار سم ستا له قبره دې لوګۍ سمه
تا باندې پرتې دي د سپېرو خاورو ډېرې مورې

راغلې له څو کالو پس بيا غېږې د وطن لره
لنډې دې پر ځان کړې د هجرت اوږدې شپې مورې

ستا پاکو شيدو باندې قسم زه (محبوبي) کوم
نوم به دې اوچت کړم که مې پاتې وي څو شپې مورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما نه دي

ځومره ښکلي دي دا غرونه خو زما نه دي
شنه لمن کې ژيړ ګلونه خو زما نه دي

شنې شنې ونې شين چمن شينکي باغونه
رنګ په رنګ هر خوا ګلونه خو زما نه دي

خوشبويي راولاړېږي له هر لوري
چا شيندلي دي عطرونه خو زما نه دي

شنې رڼې اوبه روانې دي سيندو کې
له خوښۍ وهي موجونه خو زما نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګـــل بلبـــل لـــره د مينـــې دام دی اېښــی
پکې ښکېل دي مَيَن زړونه خو زما نه دي

دلته مینـه، دلتـه خونـد دلتـه خوښـي ده
هـره خـوا تـه هوسـونه خـو زما نـه دي

د ځوانۍ نیشو کې غـرق زلمـي او پېغلـې
کـوي هـر خواتـه سـیلونه خـو زما نـه دي

پردي خلک، پردۍ خاوره، پـردی ملـک دی
پکـې سـته ډېـر نعمتونـه خـو زمـا نـه دي

(محبـوبي) د خپـل وطـن پـر حـال ژړېـږم
څـه کـړم داسـې بهارونـه چـې زمـا نـه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا مې کور دی

دا چې اور پکې بلېږي دا مې کور دی
چې لوګي ترې پورته کېږي دا مې کور
دی

دا چې اوري له هر لوري پرې اورونه
چې ژړا ترېنه جګېږي دا مې کور دی

دا چې ډک سو له کونډيانو يتيمانو
دا چې څوک نه پرې رحمېږي دا مې کور دی

د وطن ناويانې پاتې سوې سرتورې
زلميان ګور ته روانېږي دا مې کور دی

له بې وزلو سره توان د وتو نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وطن غېږ کې سوځېږي دا مې کور دی

د وطن مور سوه په سرو لمبو کې پاتې
خپل بچي ترې بېزارېږي دا مې کور دی

حال، ماضي او مستقبل مې پکې سوځي
د دښمن امر چلېږي دا مې کور دی

څوک ترې ولاړه څوک يې وسوه په لمبو کې
د زړګي سر مې غوڅېږي دا مې کور دی

لويه خدايه دا دوزخ بېرته جنت کړه
(محبوبي) درته ژړېږي دا مې کور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغاني ښځو هوډ

مــوږ يــو افغانــانې او ددې خــاورې بچيــانې يــو
سـوله صـفا غـواړو مـوږ د سـولې عاشـقانې يـو
مــوږ د مليتونــو تــرمنځ مينــه او وروري غــواړو
زور او زيـاتی نـه منـو حقـوق يـې مساوي غـواړو
دغــه زمــوږ لار ده پــه دې لار بانــدې روانــې يــو
سـوله صـفا غـواړو مـوږ د سـولې عاشـقانې يـو
پــت لــرو، عــزت لــرو مېړانــه شــجاعت لــرو
قــام سره پــه وينــه کــې جذبــه د محبــت لــرو
مــوږ د خپــل اولــس او خپلــې خــاورې فــدايانې يــو
سـوله صـفا غـواړو مـوږ د سـولې عاشـقانې يـو
جنـګ شخـه نفـرت لـرو پـه سـوله کـې ژونـدون غـواړو
مـوږ د مليتـو تـر مـنځ د مينـې پيوسـتون غـواړو
مــوږ د جنــګ پــه اور کــې ســوې ســوې پتنګــانې يــو
سـوله صـفا غـواړو مـوږ د سـولې عاشـقانې يـو
نــن کــه غلــيمان راتــه پــه ټيــټ نظــر کتــل کــوي
زمــوږ پــه ځوريــدلو او ژړا بانــدې خنــدل کــوي
غــځ بــه ترينــه واخلــو د احمــد بابــا لمســيانې يــو
وايــي (محبــوبي) چــې مــوږ د ســولې عاشــقانې يــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زړه خواله

خـورې چـې هلتـه پـر تـا څـه تېرېـږي
دلتـــه هغـــه زمـــا پـــر زړه تېرېـــږي

زه دلتـــه خورمـــه د هجـــرت څپېـــړې
ووایـم څـه چـې پـر مـا څـه تېرېـږي

وروڼو مو وران کـړه راتـه خپـل کورونـه
زمـا او سـتا بـه چيـرې شـپه تېرېـږي

سـترګې مـو کښـته سـوې ملالـې سره
چـې غـمازان مـو پـر کوڅـه تېرېـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهـــان پـــه لـــور د تمـــدن روان دی
زمـــوږ کلونـــه پـــه جگـــړه تېرېـــږي

مـــوږ خـــو ویـــاړلي تاریخونـــه لـــرل
څـــرخ د تـــاریخ نـــن سرچپـــه تېرېـــږي

د غليمانـــو پـــه دامـــو کـــې بنـــد ســـوو
ګوره چې نـور بـه پـر مـوږ څـه تېرېـږي

غلیم مو خوا کې په نخـرو نخـرو ځـي
ورونـــه مـــو ځـوړنـــده شـــمله تېرېـــږي

د ژونـد پـه بحـر کـې غرقېـږو خـورې
نـــن مـــو کښـــتۍ کـــړه وړه تېرېـــږي

د (محبـوبي) لـه زړه نـه وینـې ځـاځي
د غمـــو غشـــي یـــې تـــر زړه تېرېـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امیدونو غوټۍ

خدایه زما خاوره بېرته زما کړه
د امیـــدونو غـــوټۍ مـــو وا کـــړه
د وطـن یـاد کـې سـوځم ویلېـږم
پـه پـردي ملـک کـې ژاړم کړیـږم
مجنـون تـه ورکـه لـیلا پیـدا کـړه
دوه مین زړونه بیا خوا په خوا کړه

د جنـــګ وریځـــې پـر ملـک خپرېـږي
د سرو اورونـــــو بـــــاران ورېــــږي

دا تورې وریځې تـر غـرو فنـا کـړه
د امیـــدونو غـــوټۍ مـــې وا کـــړه

وطـــن مـــې ډک ســـو لـــه یتیمانـــو
خوښـــي تـــرې یـــوړه جګـــړه مـــارانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنګ غوښتونکو خونه تالا کړه
د امیــدونو غــوټۍ مــې وا کــړه

دا ملیتونــــــــه دا اولســــــــونه
شــونډې یــې وچــې ژیــړ یــې مخونــه

دا وچې شونډې بیا په خنـدا کـړه
د امیــدونو غــوټۍ مــې وا کــړه

دا شـــنډې ونـــې ســـوي باغونـــه
وچ چمنونـــــه ســـــپېره ډاګونــــه

سمسور سمسور یې ډک له ښکلا کـړه
د امیــدونو غــوټۍ مــې واکــړه

(محبوبي) کاندي داسې سوالونه
لــرې پــه زړه کــې ډېــر امیدونــه

خدایــه چــې غــوارم دا را عطــا کــړه
د امیــدونو غــوټۍ مــې وا کــړه

پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ساعت څه وايي؟

راسه غوږ سه و ټک ټک ته د ساعت
په هر ړغ کې يې درسونه د عبرت

تاته وايي سترګې پرانيزه غافله
تاته نه ښايي خوبونه د غفلت

هسې نه چې ژوند په خوب درباندې تېر سي
لاس به موږې درنه تېر به وي ساعت

مراد له ژوند نه خوب خوړل د انسان نه دي
ځان خبر کړه د ژوندون په مقصوديت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــه د لارې پــه سر مــه کــوه خوبونــه
د ژونـدون کـاروان دې درومــي پـه سرعـت

زمـا پـه هـر اواز کـې سـتا د ژونـد زوال دی
ځــان خــبر کــړه پــه دې راز او حقیقــت

ماتــه ګــوره لکــه زه چــې هســې درومــم
تــه هــم هســې کــوه مــخ تــه حرکــت

د ژوند بـاغ دې لـه اغزینـو بوټـو پـاک کـړه
ګــلان وکــره چــې تېــر نــه سي مهلــت

نېک عمل وکړه چې یـاد پـه نېـک نامـه سـې
د حیــوان پــه شــانې مــه کــوه رحلــت

دا جهــان کــاروان سرای دی د پردیســو
ځوک راځي ځوک تـرېځن ځـي پـه هـر ساعت

(محبــوبي) اول د خلکــو خــدمتګار ســه
بیــا د زړونــو پــه تخــت وکــړه ســلطنت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خدای ږو نه رغېږمه

پاڅېږه طبيبه نوره مرم نه پاتې کېږمه

خدای ږو نه رغېږمه خدای ږو نه رغېږمه

ماته را لوېدلي له څو کالو دا رنځونه دي
زړه کې مې جوړ سوي په زخمو باندې زخمونه دي
هر چا مې منډلي په زړګي کې خنجرونه دي

زخم د زړګي مې اوس ناسور سو پرې پوهېږمه

خدای ږو نه رغېږمه خدای ږو نه رغېږمه

ډېره کړېدلې، دردېدلې، ځورېدلې يم
ډېره په اغزو کې منزلونو ژوبلولې يم
ستونزو د ژوندون نوره له پښو نه غورځولې يم

شمع غوندې سوځم سوځېدو کې محو کېږمه

خدای ږو نه رغېږمه خدای ږو نه رغېږمه

تا چې مخ ته ايښې زما علاج ته درملونه دي
کوم درد به دوا کړي ستا ناکامه کوششونه دي
زما خو يو درد نه دی بې حسابه مې دردونه دي

زه له خپلو هيلو سره يو ځای خاورې کېږمه

خدای ږو نه رغېږمه خدای ږو نه رغېږمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شوم طالع

نــه پــوهېږم نــن مــې ولــې قلــم ګوتــو کــې لړزېــږي
نن مې بيـا د زړه پـه کـور کـې انتقـام غشـی څرخېـږي

د پرديــو پــه لمســون مــې ورور پرديــو سره مــل ســو
خپل وطن ورانوي خپله د ورور مـرګ تـه خوشـحالېږي

د ويـاړونو څلـی وران سـوه ټـول وطـن تـالا والا ســو
د نيکــو لــه هــديرې مــو شــنې لــوخړې پورتــه کېــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانان سوځي په لمبو کې يا پردي ملکو ته تښتي
د وطــن نــاوې سرتــوره و غلــيم تــه پــاتې کېــږي

د پــردي داړه‌مــارانو زمــوږ جــونګړه بانــدې جنــګ دی
زه او تــه چـې سره يــو ســو د دوی لاس او پښــې غــوځېږي

د هاتيــانو تــرمنځ جنــګ دی زمــوږ هېــواد د جنــګ ډګــر ســو
د هاتيــانو تــر پښــو لانــدې زمــوږ هــر څــه تبــاه کېــږي

ســترګې وګرځــوه شــاته دا هــم هغــه زوړ دښــمن دی
لــږ تــاريخ تــه نظــر وکــړه زوړ دښــمن کلــه دوســتېږي

مقصــد زوړ، چالونــه نــوي، نقــاب نــوی، لومــه نــوې
ســاده‌ګان بانــدې غــولېږي ســاده‌ګان پکــې بنــدېږي

(محبوبي) طالع دې شـوم دي چـې خپـل يار درتـه اغيـار سـو
لــه پرديــو ګيلــه مــه کــړه ګيلــه خپلــو څخــه کېــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خوب دنیا

ما خوب لیده په خدای ږو چې موسم د نوبهار
وي
راغلی د ښکلا فصل پر ښار د کندهار وي
گلونه غوړېدلي د بلبلو پر چغار وي
خوښي او هوسونه وي د مینې جوړ بازار وي

همزولو سره گرځم په چمن کې هرې خوا ته
په برخه مو خوښي وي درد او غم وي رانه پاتې

ما خوب لیده عالمه چې یو ښه ښکلی چمن وي
یو خوا ته مې گلاب او بلې خوا ته نسترن وي
گلونه مې ټول کړي ترېنه ډکه مې لمن وي
یو بل په گلو ولو په گلونو مو ویشتن وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شنه بخمل فرشـونه وي هـوار و هـرې خـوا تـه
آبشار د غره له سره پـه مسـتۍ راځـي ښېـديا تـه

ستون سوي تـرې وختونـه وي ځـواني وي نوبهـار وي
د زړه حالونـه وايـو نـه څـه ويـره نـه څـه ډار وي
غــماز او غلــيم نــه وي زمــوږ زړونــه پــه قــرار وي
د زړه غـوټۍ پرانيـزو ټـول رازونـه مـو آشـكار وي

زه گــورم و همزولــو تــه پــه مينــه دوی و ماتــه
يو ښكلی مازديگر وي لمر ورو ورو ځي د غـره شـاته

چې سترگې مې را پرانيستې نـه گـل و نـه بهـار و
راغلــی د گلونــو او بلبــل پــه کــور ناتــار و
پرته پردۍ کوټه کې وم نه ملک او نـه مـې ښـار ؤ
د هجر درد او غم مـې پـر زړه پـروت لکـه ښـامار ؤ

نـه ښـار د کنـدهار و نـه ځـواني وه راتـه پـاتې
د خوب نړۍ کې تللې وم د تېر وختونـو خـوا تـه

په مهاجرت کې- پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښځه څوک ده؟

ښځه مور، ښځه مېرمن، هـم لـور او خـور ده
هــم د پــلار پــه درد دردمنــه هــم د ورور ده

د اولاد خـــدمت پالنـــه کـــړي پـــه مینـــه
پرســـــتاره، مــــددگاره د خپــــل کــــور ده

ښــځه وایــي زور زیــاتی کــړې پــه مــا ولــې
دا نــړۍ مــو گــډه ټــاټوبی گــډه مــو کــور ده

چــا پــاللي چــا روزلي یاســت لــږ ځــیر ســئ
بـل څـوک نـه ده بـل څـوک نـه ده هغـه مـور ده

پرمختـــگ د نـــړۍ ټـــول زمـــا برکـــت دی
دا نــړۍ زمــا پــه قــوت بانــدې سمســور ده

تـــه عـــاجزه او یـــا کـــډه مـــا تـــه وایـــې
زه عـــاجزه نـــه یـــم متهـــو کـــې مـــې زور ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشـــــاهير د نــــړۍ ټولـــــه مـــــا روزلي
د کاميـــاب بچــــي تـــر شـــا ولاړه مـــور ده

چــې نــړۍ تــه راســم ولــې خفــه کېــږې
دا نــــړۍ زمـــا او ســـتا د مينــــې کـــور ده

زه د ســـولې فرشـــته يـــم ســـوله غـــواړم
ســـوله زمـــا د زړه آرزو د ســـترګو تـــور ده

نيمـــه برخـــه د نــــړۍ پـــه مـــا آبـــاده
نيمـه برخـه سـتا لـه لاسـه سـوی سـکور ده

د نــــړۍ و پرمختــــګ تـــه نظـــر وکـــړه
سـتا ګفتـار، کـردار، رفتـار د شـا پـر لـور ده

بـس دی نـور د جهالـت لـه خـاه نـه ووځـئ
د علميـــت رڼـــا خپـــره پـــه هـــره لـــور ده

(محبـــوبي) ډېـــوه د علـــم لاس کـــې واخلـــه
د علميـــت رڼـــا پـــه جهـــل بانـــدې زور ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښه اولاد

ښــــــه اولاد د زړه ټکـــــــور دی
افتخــــار د پـــلار او مــــور دی

خدای دې نه کړي څوک بد لارې
بــــد اولاد د قـــام پېغـــــور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نه پوهېږم

بیــا مــې څــه پــر زړه تېرېــږي نــه پــوهېږم
زړه مـــې ځـــي رانـــه ډوبېـــږي نـــه پـــوهېږم

د غـم وریځـې مـې پـر زړه بانـدې خپـرې سـوې
لـــه لیمـــو اوښـــکې بهېـــږي نـــه پـــوهېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غليم ته

نـــن پـــر مـــا غليمـــه مـــه کـــړه غورځنگونـــه
چـــې ســـبا بيـــا درنـــه اخلـــم کســـاتونه

کـــه هـــر څـــو زمـــرى لـــه ښـــو نـــه وي لوېـــدلى
پـــه تـــش گـــواښ لـــه گيـــدړانو بـــاسي زړونـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شعر بلبل

زما د شعر بلبل ګونګ سوی ږغېدل نه کوي
وزر یې مات سوه تپرېږي آلوتل نه کوي

په سترګو وینې په غوږ اوري خو زمان یې پر خوله
د خاموشۍ مهر وهلی دی ویل نه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خدایه

خدایه زړه که مې خوشحال کړې څه به وسي
نــه دردمــن نــه يــې مــلال کــړې څــه بــه وسي

د زړه کــور مـــې لــه خوښــيو ډکــه ډک کــړې
رانــه لــرې هــر جنجــال کــړې څــه بــه وسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اولس دردونه

بیــــا راځـــــي و ګلســـــتان تـــــه زاغــــان ورو ورو
لـــــه ګلشــــــنه ښخـــــه ځـــــي بلـــــبلان ورو ورو

بیــــا پـــرمخ د اســـمان راغلــــې تـــورې وریځــــې
ښــکلی لمــر ســو پــه پــردو کــې پنهــان ورو ورو

ځــــالې ورانـــــې ســــوې د ســــولې د کـــــوترو
تــرې چــارپېر ســوه د جنګونــو دېــوان ورو ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دون همـت سـوه بيـا د ورور وينـو تـه تـږی
پــه لاســو کــې خوځــوي خنجــران ورو ورو

د وطــن خزانــې بيــا ســوې ورتــه پــاتې
لــه هــر خــوا ورتــه راځــي ښــاماران ورو ورو

دروازې د علــم او پــوهې تــړل کېــږي
جــاهلان ســوه د اولــس واکــداران ورو ورو

د دې خــوار اولــس دردونــه څــوک دوا کــړي
چــې تــرې درومــي يــې د رنــځ طبيبــان ورو ورو

(محبــوبي) د خــدای لــه دره مــدد غــواړم
چــې نــابود کــړې د وطــن دښــمنان ورو ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مناجات

خدایـه(ج) مـوږ لـه ګمراهــۍ نـه پـه امـان کـړې
د اســـلام پـــر پاکـــه لاره مـــو روان کـــړې

نېک ګفتـار او نېـک کـردار مـو پـه نصـیب کـړې
د زړه کـــور کـــې مـــو پيـــدا د ډُرو کـــان کـــړې

چـــې خــدمت ســتا د بــې وزلــه مخلــوق وکــړو
تــه پيــدا زمــوږ پــه تــن کــې هســې تــوان کـړې

ســـتا مخلـــوق يـــو او و تـــا لـــره در درومـــو
دا کـــاروان مـــو لـــه خطـــره پـــه امـــان کـــړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بـــــاطن او د ضـــــمير صـــــفايي راكـــــړې
لكــه لمــر مــو منــور پــر ټــول جهــان كــړې

لـــه حـــرام او خيانـــت ښخـــه مـــو ســـاته
د زړه كــور كــې مــو د حــق څــراغ روښــان كــړې

ورور وژنـــه دلتـــه بنـــده كـــړې خالقـــه
ټولــه ورونــه يــو پــر بلــه مهربــان كــړې

د دوى زړونــو كــې د مينــې څــراغ بــل كــړې
د وحــدت پــه ډېــوه ټــول دا پتنګــان كــړې

د جنګونــو تــوره وريــځ كــړه رانــه لــرې
يــو د ســولې لمــر راپورتــه پــر اســمان كــړې

د ورانــۍ پــه نيــت چــې لاس راغځــوي څــوك
سر يې غوڅ، مال يې تالا او كـور يـې وران كـړې

(محبـــوبي) لاس پـــه دعـــا درتـــه نيـــولي
خدايه(ج)! ته يې مستجاب د خـولې بيـان كـړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هجرت دردونه

ای زما گرانه وطنه، زما روح او زما تنه
زړه مې ډک ستا له يادونو زما د پلار نيکه مسکنه

ستا نه لرې دلته پايم، دلته پايم خو تا ستايم
د هجرت زنځير په پښو کې د فراق ترانې وايم

زه لرم دومره دردونه، زه لرم دومره غمونه
لکه ډک چې وي له کاڼو لوی بحرونه، لوی سيندونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــه پــه زړه کــې نــور ځــايږي، نــه پــه ژبــه بيــانېږي
زړه کې جام د صبر ډک سو، زړه مې چوي نه پاتې کېږي

چاتـــه ووايـــم حالونـــه، چاتـــه وايـــم رازونـــه
څــوک بــه درد راتــه دوا کــړي، څــوک بــه راکــړي تسـلونه

زړه مـــې هســـې ســـولولی د دنيـــا ډېـــرو غمونـــو
لکـــه کـــاڼی چـــې د بحـــر ســـولولی وي موجونـــو

(محبـوبي) قلـم راواخلـه پـرې ليکـه د زړه دردونـه
د قلـــم پـــه وړه ژبـــه کـــړه بيـــان د زړه حالونـــه

ګوندې بار دې د زړه کم سي، ګوندې سپک دې درد او غم سي
ګوندې روح دې لږ آرام سي، ګوندې کم د سترګو نم سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له پسرلي ځخه د يو دردمن اولس غوښتنه

بهـاره! دا مـنم چـې فصـل د ښـکلا يـې تـه
خــزان وهلــی ناروغــانو تــه شِــفا يــې تــه
سـتا پـه راتـګ غرونـه رغونـه نـوې سـاه اخـلي
مــړو کاينــاتو لــره ســاه د مســيحا يــې تــه
ته چې راځې د خدای لـه لـوري سـوغاتونه راوړه
مــوږ تــه د ســولې او د امــن پيغامونــه راوړه

بهــاره! بــل مــو پــر سرو بانــدې اورونــه دي
راته جوړ سوي په خپل کور کې دوزخونـه دي
ورونـه د بـل پـه لمسـون وينـې د خپـل ورور تويـوي
د غليمانــو لاس وهــل او شــوم پلانونــه دي
د غليمانـــو تبـــاهی تـــه طوفانونـــه راوړه
او پــر سرونــو يــې لــه پاســه تندرونــه راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهــاره! تــه خپلــو وږمــو کــې محبــت راوړه
دې ســرو زړو تــه مــو جذبــه د حــرارت راوړه
چې د وروری شلېدلي مزي بانـدې بيـا وگنـډو
د ســولې ســتن راوړه تارونــه د الفــت راوړه
مــوږ تـه د پـاکې خــوږې مينــې الهامونـه راوړه
د خـدای لـه لـوري راتـه داسـې سـوغاتونه راوړه

دا د غفلت په خوب ويده اولس بيداره کـړه تـه
تورې تيارې کـړه رانـه لـرې روڼ سـهار کـړه تـه
لږ ورته ياد کړه د ميرويس او احمدشاه وياړنې
د غليمانــو لــه پلانــو يــې خــبردار کــړه تــه
متېـو تـه زور، زړه تـه قـوت، سر تـه فکرونـه راوړه
پــه وينبســېدو، پــه پاڅېــدو دا اولســونه راوړه

بهـاره! مـوږ دې نـه گـلان نـه آبشـارونه غـواړو
نه مست سيندونه، نه چمن، نه شنه دښتونه غواړو
زموږ په منځونـو کـې بـل سـوي د نفـاق اورونـه
د دې دردمـن اولـس دردو تـه درملونـه غـواړو
چــې بانــدې مــړ د نفــاق اور کــړو بارانونــه راوړه
مــوږ تــه د ســولې او يــو والي پيغامونــه راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغ لـه خدایـه ښخـه کلـه بـل نعمـت غـواړي
له خپله خدایه روغ وجود، سالم صحت غـواړو
موږ د جنګونو دېـو داړلي يـو زخمـي پراتـه يـو
دلتــه هــر يــو د امــن تــږی امنيــت غــواړي
تـه چــې راځــې مـوږ تـه د امـن سـوغاتونه راوړه
د ســولې جــام کــې د يــووالي شربتونــه راوړه

د تــوپ، راکــټ، زړه لړزونکــي اوازونــه اورو
ددې بــې وزلــه اولــس چيغــې فريادونــه اورو
بــوی د بــاروتو او د وينــو مــو دمــاغ تــه راځــي
د خپـل دردمـن نـاقرار زړه څـه دا ږغونـه اورو
بهـــاره! تـــه راتـــه قـــرار او تســـلونه راوړه
چې معطر مـو کړي دمـاغ داسـې عطرونـه راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوند کاروان

د ژوندون کاروان تېرېږي درېغه درېغه
آخري منزل رسېږي درېغه درېغه

له فاني سرايه عالم په کوچېدو دی
د بېلتون موزيک ږغېږي درېغه درېغه

د مرګي قاصدان ځي د هر چا لور ته
هر يو خپل په نوم پاڅېږي درېغه درېغه

څوک چې ولاړه ببرته نه راځي دنيا ته
تللي ببرته نه ستنېږي درېغه درېغه

نن په بل پسې ژړا او واويلا کړي
سبا خپله روانېږي درېغه درېغه

چا د نېک عمل توښه ځان سره يووړه
څوک په بدنامه يادېږي درېغه درېغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندون ډېر له خپلې غېږې څه شړلي
زمونږ نوبت هم رارسېږي دریغه دریغه

حاضر دم دې غنیمت ګڼه په ژوند کې
که عبث درنه تېرېږي دریغه دریغه

دا خیال مه کړه چې نور دروميي زه به پایم
دلته څوک نه پاتې کېږي دریغه دریغه

د دنیا په نعمتونو غُره مه سه
ټول و بل ته پاتې کېږي دریغه دریغه

هغه تللي در په یاد کړه هغه څه سوه
ستا هم هسې وار تېرېږي دریغه دریغه

څو چې توان لرې د خلکو خدمتګار سه
بس همدا دې په کارېږي دریغه دریغه

(محبوبي) د ژوند له بڼ څه ګلان ټول که
کنه وخت درنه تېرېږي دریغه دریغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وحدت چيغه

گرانــو وطنوالــو دا څــه وســوه او څــه کېــږي
ولــې مــو جــونگړه د نفــاق پــه اور ســوځېږي

ولــې مــو کــړنلاره د نيکــو او پــلار بدلــه کــړه
ولــې مــو مارونــه پــه لســتوڼي کــې اوســېږي

ولـې مـو پـر سترگو د غفلـت پـردې خپـرې دي
ولـې زوړ غلـيم راتـه د ورور غونـدې ښـکارېږي

دلتــه غليمانــو اوبــه خــړې کــړې کبــان نيســي
دا پــه خــوب ويــده افغانــان ولــې نــه پــاڅېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلـه لا تـر څـو بـه آواره پـر دې ملکـو کـې يـو
کلــه لا تــر څــو بــه سره اورونــه را اورېـــږي

خپلو کې چې وران سوو هر ګيدړ راته زمری سو نن
غـلي ورتـه ناسـت يـو غلـيمان راتـه ګواښـېږي

لاس او پښې تړلي د قصاب پر غـولي ناسـت يـو
ولـې د ښـارويو پـه څېـر ځـان راتـه ښـکارېږي

هغه احمدشاه چې دښمن کور کـې پـه لـړزه و تـرې
نـن يـې اولادونـه لـه خپـل سـيوري نـه ډارېـږي

راسـئ د وحـدت لاسـونه ورکـړو و يـو بـل لـره
زمـا او سـتا بـه زور د غليمانـو لاس غـوڅېږي

چيغـه د وحـدت (محبـوبي) ورسـوه هـر چاتـه
دا د هـر افغـان د رنـځ درمـل دی پـرې رغېـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مطلبي یاران

د دې زمـــان لـــه يـــارانې بـــوی د جفـــا راځـــي
لـــه دې دوه مخـــي آشـــنايانو نـــه ترســـا راځـــي

د صادق يار پېژندل ګران دي د ټګانو ټـول کـې
زړه کې يې کرکه خو پر شونډو يـې خنـدا راځـي

که يې مطلب درسره بند و ځان غلام کړي درتـه
چې مطلب واخلي نه تپوس کړي نه پـر خـوا راځـي

که مطلبي يار لره ځای د زړه په کور کـې ورکـړې
نه به دې دوست سي نه په کار درته سـبا راځـي

د خوښۍ وخت کې دې څوک مخ او څـوک و ځنـګ تـه ناست
وي
د مشقت وخت کـې ورو ورو درنـه پـه شـا راځـي

که ظاهري مقام دې لـوړ او دسـترخوان دې ډک

(c) ketabton.com: The Digital Library



و
ټول مطلبان لکه مچان له هرې خوا راځي

نن په نږدې نږدې دوستانو بې باوره سومه
د مار خوږلي له تناب څخه ترسا راځي

څومره به ښه وي چې د خولې او د زړه لار یوه کړو
دې کې رضا هم د مخلوق هم د مولا راځي

رښتینی یار د سترګو تور د زړه ټکور وګڼه
له نزدیکت نه یې و زړه ته تسلا راځي

(محبوبي) کانړو د بحرونو کې ګوهر لټوه
رښتینی یار کله په لاس درته وړیا راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لېونی وايي

جهــــان زمـــا زه د جهـــان پـــه ننـــداره يـــم
کـــه هـــر څـــومره لېـــونی يـــم لـــه دوی ښـــه يـــم

زه و دوی تـــه، دوی و مـــا لـــره حيـــران دي
نـــه پـــوهېږم چـــې دوی څـــه دي او زه څـــه يـــم

د چلونـــــو او فرېبونـــــو بـــــازار تـــــود دی
ورتـــــه گـــــورم او د دوی پـــــه تماشـــــه يـــــم

ټـــول عـــالم د نفـــس خـــواهش پســـې دی
زه لـــه هـــر څـــه بـــې پـــروا او بېگانـــه يـــم

د ورور غوښـې يـې خـوراک، وينـې يـې څښـاک
دی
خدای دې نه کړي چې به دوی غوندې لېوه يم

نـــه لېـــوه غونـــدې حملـــې وهـــم هـــر لـــور تـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــــه ددوی غونــــدې حــــریص او درنــــده یــــم

نــــه لــــذت وړمــــه د نــــورو لــــه ذلــــت نــــه
ځکــــه ټولــــه راتــــه وایــــي چــــې ســــاده یــــم

گنــــاه دوی کــــوي او مــــا پــــه کــــاڼو ولي
خــــبر نــــه یــــم پــــه کــــوم جــــرم آلــــوده یــــم

(محبــــوبي) لــــه عــــالمونو څــــه جــــدا ســــوم
ویرانــــه کــــې لــــه خپــــل ځــــان سره اختــــه یــــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځمکې

ځمکـــې ســـاتي زړه کـــې ځـــومره عالمونـــه
و هـــر چاتـــه خلاصـــوي د زړګـــي ورونـــه

ډېـــر غمجـــن ارمـــاني زړونـــه دې پـــه زړه کـــې
تـــا ســـاتلي د هـــر چـــا د زړه رازونـــه

لالهانـــده ژونـــد چـــې ډېـــر وو ســـتومان کـــړي
اوس دې غېـــږه کـــې کـــوي خـــواږه خوبونـــه

ځـــوک غرقـــاب وو د غمونـــو پـــه دريـــاب کـــې
چـــا لـــه ژونـــده ځخـــه واخيســـتل خوندونـــه

د ژونـــد کـــور کـــې يـــو ځـــو ورځـــې مېلمانـــه يـــو
تېـــروو بـــه ســـتا پـــه غېـــږه کـــې کلونـــه

ډېـــر ځوانـــان د هيلـــو ډک زړه درتـــه راغلـــه
پـــه ژونـــدون کـــې پـــوره نـــه ســـوه آرمانونـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پندونه

کـــه بـــری غــــواړې زمــــا نورالبصـــــره
پـه ژونـدو کـې پاکـه لار کـړه ځانتـه غـوره

ځانته ځای د خلکـو زړونـو کـې پیـدا کـړه
چـــې ونـــه لـــوېږي د خلکـــو لـــه نظـــره

مـدام سـاته اعتـدال پـه هـر یـو کـار کـې
د افـــراط او تفـــریط لار وي پـــر خطـــره

اعتبـــار او اعـــتماد ځـــان کـــې پیـــدا کـــړه
پـــه ټولنـــه کـــې بـــه تـــل یـــې معتـــبره

څه چې ته غواړې په بل یې هم پېرزو کړه
د انصــــاف تلــــه دې ســــاته برابــــره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکــه شــمع رڼــايي محفــل تــه ورکــړه
چاپېريــال دې پــه خپــل نــور کــړه منــوره

زر چې پاک وي نو له اوره يې څه باک وي
نېک کردار سه ويره مه کړه له محشــره

ابتــدا کــې د هــر کــار انجــام تــه ځيــر ســه
پــه دريــاب کــې مــه ګــډېږه بــې ګــودره

تــل ســپما کــوه فضــول خرڅونــه مکــړه
چــې محتــاج نــه ســې و بــل تــه د زړه سره

څو چې توان لرې د خلکــو خـدمتګار ســه
ځـــان دې ســـاته لـــه آزار او لـــه ضرره

انســـان فـــرق لـــري تـــر نـــورو مخلوقـــاتو
انســـاني کرامـــت ســـاته لـــه خطـــره

څه چــې وايــې پــه عمــل کــې هســې وکــړه
(محبــوبي) چــې چاتــه نــه ســې بــې بــاوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تېر وختونه

خدایه څه سوه هغه تېر خواږه وختونه
هغه تېرې خوږې میاشتې او کلونه

خدایه څه سوې هغه شپې او هغه ورځې
ډک له مینې او له خونده ساعتونه

څنګه پټ سوه له نظره چیرې ولاړه
هغه تلې پاک سپېڅلي عالمونه

د یارانو منځ کې مینه محبت و
جارول یې له یو بل نه خپل سرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــه دوســتي وه کــه یــاري پــه صــداقت وه
نـــه مکرونـــه وو نـــه فرېـــب ؤ نـــه چلونـــه

که بـه څـوک اختـه پـه غـم یـا مصیبت سـو
غځــول یــې هــر چــا مرســتې تــه لاســونه

دلتـــه امـــن و، خوښـــي وه، آرامـــي وه
نـه څـه جنـګ و، نـه د تـوپ راکـټ ږغونـه

نـــه د وینـــو تویـــول چاتـــه مبـــاح وو
نـــه و ځانتـــه چـــا روا ګنهـــل قتلونـــه

نـــه انســـان ؤ د انســـان وینـــو تـــه تـــږی
نـــه وږیـــا وو د سرو وینـــو سره لعلونـــه

نـــه بـــه راسي هغـــه تلـــلي تلـــلي خلـــک
نـــه بـــه زمـــوږ او ددوی وسي دیدنونـــه

خدایه(ج)! یو ځل خو یې خوب کې ورښکاره کړه
(محبـــوبي) تـــه تېـــر وختونـــه، تېـــر کلونـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څومره ښه

خـوږ آشــنا مــې رارســېږي څــومره ښــه
لـــه ســـفره راســـتنېږي څـــومره ښـــه

پـه بېلتـون کـې يـې پـر مـا تـوره تيـاره وه
د بېلتــون شــپه ســبا کېــږي څــومره ښــه

هغــه زړه چـــې د ناکامــه هيلــو گــور ؤ
کـور د مينـې تـرې جـوړېږي څـومره ښـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــن دنیــا راتــه رنګینــه غونــدې ښــکاري
تور هم سپین راته ښکارېږي ځومره ښه

د راتلــو زېــري يــې ډېــره كــړم خوشــحاله
پــه ګوګــل كــې زړه نڅېــږي ځــومره ښــه

د اميــد ډېــوه مــې بلــه ســوه پــه زړه كــې
هــره خــوا راتــه ځلېــږي ځــومره ښــه

د زړه كــور مــې لــه غمونــو څخــه ډک
ټــول غمونــه رخصــتېږي ځــومره ښــه

قاصــــــدانو د غــــــماز ؤ رانــــــه وړی
اوس راځـي ترېنـه خلاصېږي ځـومره ښـه

(محبــوبي) د زړه حــرم ورتــه خــالي كــړ
بــس همدلتــه بــه اوســېږي ځــومره ښــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ناکامه هیلې

څنگــه دې فلکــه زمــا د زړه خونــه تــالا کــړه
هغـه چـې مـا نـه غوښـتل هغـه دې راتـه راکـړه

مـالا شـونډې نـه وې خلاصـې کـړې و خنـدا لـره
تـا مـې خنــدا واخســته ژړا دې را عطـا کــړه

مـا د هیلـو قصـر د زړه کـور کـې آبـاد کـړی و
تـا پـرې تندرونـه لـه آسـمانه را خطـا کـړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وې زه به جوړ کړم د ژوند باغ کې د ګلونو بڼ
تا مې هره هيله په زړګي کې نيمه خوا کړه

دا منم چې ژوند کې هم خوښي او هم غمونه شته
تا يو ته خوښي بل ته غمونه ور په شا کړه

تله د انصاف په لاس کې واخله او انصاف کوه
غم چې راکوې نو بيا خوښي هم راته راکړه

ټوله آرزوګانې مې د زړه په کور کې مه وژنه
لږ څه رحم وکړه څه چې غواړم هغه راکړه

ما د ژوند ترخې ډېرې ليدلې ډېرې څکلې دي
لږ خو مې فلکه له خوږو سره آشنا کړه

نور د (محبوبي) زړه کې فلکه غم ته زغم نشته
هر بد چې دې توان کې وه هغه دې راته راکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خلکو

ای خوږېدلو خلکو، ای کړېدلو خلکو
ای رنځېدلو خلکو ای دردېدلو خلکو

نه بیدارېږئ ولې؟ نه راپاڅېږئ ولې
ورونه په ورونو وژني نه هوښیارېږئ ولې؟

موږ په غفلت کې ډوب یو په جهالت کې ډوب یو
دښمن په کور کې ساتو په څه وحشت کې ډوب یو

دښمن مکار دی زموږ خلکو هوښیار اوسئ
د غفلت خوب نه پاځئ ټوله بیدار اوسئ

موږ سره وژنو یو بل، دښمن خوښېږي راته
دې نادانۍ ته زموږ گوره مُسکېږي راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـوږ پـه ذلـت کـې مـدام ځانتـه لـذت غـواړي
پـه بربـادۍ کـې زمـوږ خپـل ابـديت غـواړي

پـه دې لېوانـو بانـدې خيـال د انسـان مـه کـوئ
زموږ د ټاټوبي په غلو خيال د پاسبان مـه کـوئ

کـانې نرمېـږي کلـه، دښـمن دوسـتېږي کلـه
زمـوږ تـاريخي دښـمنان پـر مـوږ رحمېـږي کلـه

يو ځل تر شا وګورئ خپل تاريخو تـه ځـير سـئ
د پـلار، نيکونـو غيـرت او کارنـامو تـه ځـير سـئ

مــه کــړه د بــل غلامــي آزاد انســـان يـــې تـــه
د غيرتمنـــو اولاد، ســـوچه افغـــان يـــې تـــه

يـو لاس کـې تـوره واخلـه بـل کـې قلـم واخلـه
د خوشـحال خـان پـه پلونـو قـدم واخلـه

کـه مـو دښـمن مـات کـړی درتـه سـلام دی زمـا
(محبـوبي) وايـي خلکـو! دغـه پيغـام دی زمـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راسه راسه

ای زمـــا د زړه قـــراره راســـه راســـه
ســتا بېلتــون کــړم نــاقراره راســه راســه

د زړه ګل مې ستا بېلتون کړی مړاوی مړاوی
راســه زمــا د ژونــد بهــاره راســه راســه

نه مې ورځ کې څه ارام نه په شپه خوب ستـه
ســترګې سرې لــه انتظــاره راســه راســه

ســتا د هجـر پـه اورونـو کـې مکـوټ ســوم
ته مې خلاص کړه له دې نـاره راسـه راسـه

زړه مې ستا د بېلتانه پـه تېـغ زخمـي سـو
د زخمـــي زړو پرســـتاره راســـه راســـه

اندېښـنو دې زمـا زړه سـوری سـوری کـړ
نـــه ويرېـــږې لـــه آزاره راســـه راســـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمـا لـه خـوا نـه غـماز څـه درتـه ويـلي
تـه پـه څـه يـې دل آزاره راسـه راسـه

د رويبـار پـه لاس پيغـام نـه درلېږمـه
راځـه راسـه بـې رويبـاره راسـه راسـه

کومـه ورځ چـې دې نامـه د جفـا راشي
پـه شـپه ژاړم تـر سـهاره راسـه راسـه

لـه هـر چـا دې د راتلـو تپـوس کومـه
څـارم سـتا د راتلـو لاره راسـه راسـه

(محبـوبي) د شـعر پـه ژبـه درتـه وايـي
مـه ځـه زمـا لـه کنـدهاره راسـه راسـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وران کور

بیا ژړا جګېږي د کوم خوار جونګړه ورانه سـوه
مړ د چا څراغ سو ځوک بې سر او بې سـامانه سـوه
نسـته رحـم نسـته پـه خونخـوارو جلادانـو کـې
څـه تبـاهي راغلـه لویـه خدایـه افغانـانو کـې

بیا ژړا جګېږي بیا ځوک بوره، ځـوک سرتـوره سـوه
کوم ماشوم بې پلاره او بیا کومه خور بې وروره سوه
ولـــې اثـــر نســـته پـــه فریـــاد د یتیمانـــو کـــې
څـه تبـاهي راغلـه لویـه خدایـه افغانـانو کـې

زموږ تنکي ځوانان جنګ کې پیدا، جنګ کې فنا سوله
اورې پـرې اورونـه پـه پـردي لاسـو تبـاه سـوله
خدایه څه لو ګډ سو په تنکي تنکي ځوانانو کې
څـه تبـاهي راغلـه لویـه خدایـه افغانـانو کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لونړې د میرویس او احمدشاه ځنګه خوارانې سوې
ځې پردي ملکو ته د پردیو مزدورانې سوې
وران یې سول کورونه اوښکې ځاځې په ګرېوانو کې
څه تباهي راغله لویه خدایه افغانانو کې

دلته بیا د قهر توري وریځې خروښېدلې دي
کور کې د افغان یې تندرونه غورځولي دي
بیا غوغا سوه ګډه (محبوبي) په بې وسانو کې
څه تباهي راغله لویه خدایه افغانانو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما هوډ

نن مې خيال دى خپل تندى به ماتومه
دا لـــه غمـــه ډکـــې کرښـــې ورانومـــه

زمـا پـه برخـه ټـول غمونـه خوښـي نسـته
دا تقسـيم پـه خپـل قسـمت نـه قبلومـه

د فلـک لـه جفاګـانو مـې زړه شـين سـو
دا شـين والـى نـن فلـک تـه ورکومـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناکامــه آرزوگــانو پــه دریــاب کــې
پــر زخمــي زړه د ځپــو ټکــرې خورمــه

یا به مات کړم په خپل سر د دریاب کاڼي
یــا ســاحل تــه د بــري ځــان رســومه

زړه مــې چــوي د ژونــدون لــه کــړاوو څــه
نــور د ژونــد لــه بنــده ځــان آزادومــه

زما قسمت کې خواږه نسته ټول ترخه دي
نــن دا خپــل قســمت پــه خپلــه بدلومــه

دا یــې هــوډ او دا پیمان د (محبــوبي) دی
یــا بــه مــرم او یــا بــه ځــان کامرانومــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له غمه ډکه شپه

تیــاره ده شــپه پخــه ســوه راتــه نــه راځــي خوبونــه
پــــر زړه بانــــدې مــــې راغلــــه د غمونــــو طوفانونــــه
چورتونــــو او فکرونــــو مــــې آرام راخخــــه یــــووړ
لــه غمــه ســودايي ســوم چاتــه ووایــم حالونــه
غرقېږم د غـم سـیند کـې پـه هـر خسي ـ پـورې لاس نیسـم
نــه لاس ځــوک راکــوي نــه را معلــوم دي گودرونــه
ســېلۍ او طوفــانونو کــړم اســیره پــه خپــل منــځ کــې
پــــاځېږم بېرتــــه لوېږمــــه او خورمــــه ټکرونــــه
اوږده د غمــه ډکــه شــپه، تیــاره ده او چوپتیــا ده
لمــر ځــرک نــه معلــومېږي او ویــده دي عالمونــه
دم چُــف د ملایــانو هــم اثــر رابانــدې نــه کــړي
دردونــه نــه کمېــږي بــې تــاثیره ســوه دمونــه
زمــا ربــه ســتا بنــده یــم ســتا کــرم او رحــم غــواړم
نــور مــه اوروه مــا بانــدې د قهــر بارانونــه
خالقــه دا مــلال زړه مــې خوشــحال پــه خپــل کــرم کــړه
د غــم زنځــیر کــې بښــکېل یــم رانــه مــات کــړه زنځیرونــه
محبــوب مــې تــه یــې ربــه (محبــوبي) دې در کــې ژاړم
لــه تــا نــه مــدد غــواړم لــرم ســتا نــه امیدونــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د میوند غمیزه

پـر زړګـي بانـدې مـې راغلـه بیـا دردونـه نـوي نـوي
د زړه زخم کې مـې جـوړ سـوه نـور زخمونـه نـوي نـوي

ای زړګیـه تـه بـه څنګـه پـه آرام او پـه قـرار سـې
لـه هـر لـوري پرتـا کېـږي ګوزارونــه نــوي نــوي

زمــا پــر ګرانــو وطنوالــو تندرونـــه را ورېـــږي
بیــا یــې وســول پــر سرونــو غوبلونــه نــوي نــوي

لـه هـر کـوره څـه راوځـي سـوي سـوي فریادونـه
د کورونــو مــخ تــه ګــورم تابوتونــه نــوي نــوي

نــوي نــوي تــابوتو کــې نــوي نــوي ځوانــان ګــورم
هـر تـابوت څخـه څڅېـږي سره لعلونـه نـوي نـوي

زما د خوار اولس پـه وینـو دښـتې سرې سـوې غرونـه سره سـوه
خدایــه ورکــړې و قاتــل تــه عذابونــه نــوي نــوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زجـر ور نـه کـړې لحـده دې تنکـي زلمـو تـه
په ژوندون کـې يـې ليـدلي ډېـر زجرونـه نـوي

ای لحده! لکه مور چې خپـل ماشـوم پـه غېـږ کـې سـاتې
تــه هــم هســې تــازه ســاته دا ګلونــه نــوي

ای زمــا خـــوارو، وږو، لوڅـــو لالهانـــد اولســـونو
و کـــوم لـــور تـــه مـــو کولـــه ســـفرونه نـــوي

د مـړی پيداکېـدو تـه تلاسـت پـردي پـردي ملکـو تـه
پـــر ځـــانونو مـــو قبـــول کـــړه خطرونـــه نـــوي

خپل وطن کې مهاجر ياست نه مـو کـور او نـه ډوډی سـته
هـر قـدم کـې درتـه جـوړ دي پاټکونـه نـوي نـوي

د ميونــد غميــزې ډېــره (محبــوبي) کــړه نــاقراره
نـن ليکـي د زړه پـه وينـو خپـل دردونـه نـوي نـوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاته وایم ګاونډیه!

زمـا ګاونډیــه دا ورځ نــه درتــه پــاتېږي ګــوره!
چـې پـر مـا خانـدې دا خنـدا دې ژړا کېـږي ګوره!

تـه چـې زمـا د کـور ورانــۍ لپـاره پـلان جـوړوې
څوک چې د بل کور ورانـوي کـور یـې ورانېـږي ګـوره!

دا خړ سېلاب چې راروان دی زما او ستا پـه لـوري
ستا هم په دې سېلاب کې سر او مال غرقېږي ګـوره!

تــه چــې زمــا د سر پــه بیــه بنګلــې جــوړوې
دا بنګلــې دې پــه دوزخ بانــدې بــدلېږي ګــوره!

نــن مــا پــه تــا وژني او تــه یــې د ســبا نښــه یــې
نـه پـر مـا رحـم کـړي او نـه پـر تـا رحمېـږي ګـوره!

دلته چې اور د نفـاق بـل سـو ورتـه خـس مـه راوړه
اور چې زور واخلي ستا و کـور تـه هـم رسـېږي ګـوره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــه ابــادي خپلــه زمــا پــه بربــادۍ کــې وينــې
د خدای لعنت پر داسې چا باندې وربېږي گـوره!

ځانتــه کبــان نيســې او مــا لــره اوبــه خــړوې
چې بل ته څاه باسي څوک خپله پکې لوېږي گـوره!

دا پــه بمونــو وران کورونــو تــه مــې مــه مُسـکېږه
انتظــار وکــړه ســتا کورونــه هــم ورانېــږي گــوره!

دوه ژبې مه ساته په خوله کـې دوه مخـي مـه کـوه
نور دې نقاب ورو ورو له مخـه پورتـه کېږي گـوره!

يــا زمــا ملگــری ســه يــا مــل ســه د غليمــه سره
دوې هندوانې په يوه لاس نـه نيـول کېږي گـوره!

زړه کې دې يو څه خو په ژبه بانـدې بـل څـه وايـې
(محبــوبي) ســتا و دې چلـو تـه حيرانېـږي گــوره!

که زما او ستا زور سره يو سی لوی قـوت بـه جـوړ کـړو
بيـا غلـيمان زمـوږ تـر کـورو نـه رارسـېږي گـوره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راځه چې ځو صحرا ته

راځــه چـــې سره ولاړ ســو لــه دې ځایــه و صــحرا تــه
د شـــنو غرونـــو لمنـــو تـــه ښاســـته ښـــکلې بېـــدیا تـــه
زړګـــی مـــې نـــور تنـــګ ســـوی پـــه دې لـــوړو دېوالـــو کـــې
راځـــه چـــې سره ولاړ ســـو د کېږدیـــو تماشـــا تـــه
لـــه دې پوښـــلې کـــور بنـــدې هـــوا څـــه بـــه راووځـــو
آزاده ســـاه بـــه واخلـــو ځـــو تـــازه هـــوا تـــه
ورو ورو بـــه د غمونـــو پېټـــی لـــرې کـــړو لـــه زړو څـــه
ځانونـــه بـــه یـــې غـــم کـــړو غـــم بـــه نـــه وي راتـــه پاتـــه
غمونـــه پـــه ټـــول وســـپارو څپـــو تـــه د ســـیندونو
دردونـــه بـــه هـــم واچـــوو د لـــوړو غرونـــو شـــاته
راځـــه چـــې یـــو څـــو ورځـــې د کوچیـــانو مېلمانـــه ســـو
غـــوړ کښـــېږدو د ســـاده خلکـــو ســـاده ســـاده وینـــا تـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپونکی ګورو چې خنګه په دښتو کې رمې څاري
په مينه به غوږ کېږدو د شپونکيو و هاها ته
بيا وګورو ښکاري د غرو هوسۍ ښکاروي څنګه؟
هم وګورو له مرګ څه د هوسيو و ځغستا ته
ملګرې به له ځان سره کړو څو کوچيانې پېغلې
يو ځای به سره ولاړ سو د غاټولو تماشا ته
غاټول به کړم را ټول او ترينه جوړه به ګېډۍ کړم
په مينه او خندا به يې ډالۍ کړمه و تا ته
ښکاره به سره ووايو د خپل زړګي حالونه
زه تا ته د زړه حال وايم ته حال ووايه ما ته
د شپې به ښکلي ستوري موږ ته کړي اشارتونه
سپوږمۍ به په حيرت وي دې زړه وړونکې تماشا ته
نن زړه د (محبوبي) له ښاره موړ راته ښکارېږي
له ښار او له ښاريانو څخه درومې و صحرا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژوند ډګر

د ژوند ډګر کې هم خـزان او هـم بهـار راځـي
کلـه خپـرې تـورې تيـارې کلـه سـهار راځـي
کله د غم د سند څپې انسان په مخه واخلي
کله له هرې خوا خوښي ورته بې شمار راځي
کله پر مخ د انسان بنده سي د هيلـو کړکـۍ
کلـه بريـا وي هـم لـه در هـم لـه دېـوار راځـي
کلـه يـې واخـلي وزرو کـې د نجـات فرښـتې
کلـه يـې سرتـه د زمـان د دېـو ګـوزار راځـي
کلـــه يـــې ونـــه د آرزو د خـــزان بـــاد ووهـــي
کله يې وچې څانګې شنې سي پرې بهـار راځـي
ژړا، خنـــدا دواړه ملګـــري لـــه انســـانه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه بېلېدونکي دي تـر مرگـه وار پـه وار راځـي
د ژوند سفر کې هم ژورې او هم لوړې راځـي
څوک چې همت لري پر دې لار استوار راځي
مدام پر ستونزو بريالي وي د همت څښتنان
ځان و هـدف تـه رسـوي او پـر دې لار راځـي
که هر څو لوېږي بيا پاڅېږي بـې وسي نـه منـي
برياليتوب پـه لاس راوړي پـر دې بـازار راځـي

(محبـوبي) زړه کـې دي ډېـوه د اميـد بلـه سـاته
تـورو تيـارو د ژوندانـه کـې دې پـه کـار راځـي
د مايوسۍ زنځيـر لـه پښـو او لـه لاسـو لـره کـړه
پـــه حرکـــت کـــې برکـــت د کردگـــار راځـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له زمانې څه شکایت

د زړه په خونه کې دردونه لرم
له زمانې شکایتونه لرم

نه څه آرام لرم په سر د ځمکې
نه الوتو ته وزرونه لرم

لکه ویشتلی وزر ماتی مرغه
له سوزه ډک فریادونه لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د زړګي ورونه مې خلاص کړم درته
پکـــې د سرو وينـــو ډنډونـــه لـــرم

له هـرې خـوا څـه ګوزارونـه خورمـه
لـه هـر هـر چـا پـر زړه داغونـه لـرم

زمانـه! بـس ده نـور مـې مـه ځـوروه
سـتا لـه ظلمـو څـه داسـتانونه لـرم

پر دې نـاتوان وجـود مـې ورحمېـږه
لـــه تانـــه دغـــه اميدونـــه لـــرم

پر زخمـي زړه مـې ګـوزار مـه راكـوه
نــه تــوان طاقــت د ګوزارونــو لــرم

د (محبوبې) له مرى لاس لرې كـړه
يو څو وروسـتي دردمـن آهونـه لـرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوه مخي انسان ته!

تــه هــم پــوهېږې چــې زه پــوهېږم
زه هــم پــوهېږم چــې تــه پــوهېږې

نــور دې نقــاب کــړه لــه مخــې پورتــه
نــور بــه نــه پــټ ســې او نــه پټېــږې

نــه دې وقــار ســته پــه جامعــه کــې
او نــه پــه نېــک نــوم چېرتــه يــادېږې

په خوله دې يو څه زړه کې دې بل څه
دوه مخــي مــه کــړه چــې رســوا کېــږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه یــوه خولــه کــې دوه ژبــې ســاتې
لــه خپــل عملــه هــر ځــای شرمېــږي

پتېــدای نــه ســې د پــردې شــاته
د پــردې شــاته هــم معلــومېږي

کــه توبــه نــه کــړې لــه دې کــرداره
د خــدای حضــور تــه څنگــه درېــږې

صــداقت نــه کــړې پــه کــار او بــار کــې
و خیانــت تــه ډېــر هوســېږې

مــدام ملتیــا کــړې د بــد کــردارو
چې نېک کردار وي تـرې لـرې کېـږي

چــې نــه دې قــدر نــه اعتبــار ســته
دا څــه ژونــدون دی او څــه بــه کېــږي

دا ټولــه وایــم دا ســتا لپــاره
(محبــوبي) وایــي کــه وپــوهېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جفا کار ته!

نــن مــې بيــا پــر زړه د غــم بــاران ورېــږي
ســتا تخمونــه د جفــا پکــې شــنه کېــږي

ستا جفا مــې نويشــته د زړه پــر تخــت ده
کــه هــر څــو يــې هېــروم نــه مــې هېرېــږي

چې هر بــد دې را بــه زړه کــړم ســترگې ژاړي
پرهارونـــه مـــې د زړه راتـــه خنـــدېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــې نظــر وکــړم د زړه پــاکې کعبــې تــه
ســتا جفــا لکــه بتــان پکــې ښــکارېږي

نــادان زړه لــه جفــا کــار نــه وفــا غــواړي
لمــر پــه تــوره شــپه کــې کلــه ځرگنــدېږي

د زړه کورتــه مــې غــم راغــی خوښــي ولاړه
د اخـــتر ورځ عاشـــورا راتـــه ښـــکارېږي

ستا جفا مې زړه غمجــن هــم يــې دردمــن کــړ
زخمــي زړه مــې نــه رغېــږي نــه درېــږي

(محبوبي) که بــل جفــا کــړي تــه وفــا کــړه
هر هر چا ته د خپل کښــت ثمــر رســېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# و جاهل ته!

نصیحت جاهل ته ټوکې معلومېږي
نه اثر وربانـدې کړي نه په خوښېږي

جاهلان لکه تور کاڼي د سیندونو
په اوبو باندې نه نرم نه سپینېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډۍ

شربـــت د وصـــل راتـــه راکـــړه
زه یم د هجر جـل وهلـې مـړه بـه سـمه

ســتا بېلتانــه کــړم بــې غیرتــه
لــه غلیمانــو څخــه غــواړم کومکونــه

د بېلتـــون زهـــر دې ترخـــه وه
په ما یې قی کړه د ټول عمـر نعمتونـه

بیـــا مـــرور راتـــه ښـــکارېږي
چــې غمازانــو درتــه څــه ویـلي دینـه

پـــه ټوکـــو ټوکـــو مـــرور ســـو
زمــا آشــنا د ماشــومانو خــوی لرینــه

ګیلـــه لـــه خپلـــو څخـــه کېـــږي
له پردي خلکو څه بـه څـه ګیلـه کومـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینــــې دې داســــې لېــونی کــړم
پــه رڼـا ورځ مــې د کــور لار غلطومــه
بیــا مــې چپــه ســترګه رپېــږي
زړه مې درزېږي چې به څه راپېښه شینه
د زرو قـــــدر پـــــر زرګــــــر وي
د معشــوق قــدر لــه عاشــقه سره وینــه
ســـتا د دیـــدن بـــاران کـــه وسي
زمـا د زړه باغچـه بـه ونیســـي ګلونـه
نیســتي د خــدای لــه لــوري راغلــه
خپلـو پـردو راڅخـه واخیسـته لاسـونه
زه دې رســوا کــړم پــه عــالم کــې
پــه لویــه لاره کــې کــوي اشــارتونه
ماښــام مــې خــوب لیــده جانانــه
چې کندهار کې د خرقې زیارت ته ځونه
(محبــوبي) نــورې لنــډې بــس کــړه
ډېـرې لنـډۍ د سـړي لا غـم زیاتوینـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رستم

## زموږ د ټولنې يوه دردونکې قيصه

اورېدلې مې قيصه ده چې له زهرو نه ترخه ده
ورته غوږ سئ وطنوالو هسې نه چې افسانه ده

د رستم په نوم يو ځوان و د همدې خاورې افغان و
نه يې ځمکه باندې سوری نه يې ستوري پر اسمان و

خو ښځن ورته ورکړي ښايسته پنځه بچيان وو
دوې يې لوڼې درې زامن وو تر خپل ځان ورباندې ګران وو

يوه ورځ رستم ويله تاته وايم ای مېرمنې
اوس د کليو حال خراب دی دا خبرې کوم سپينې

زموږ همدا پنځه بچيان دي ورته ډېر مو اميدونه
تېروو د دوی لپاره تکليفونه، زحمتونه

خدای دې نه کړي چې رانسي له دښمنه راکټونه
بيا ونه کړي په خوارانو جهازونه بمباردونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځه چې ولاړ سو و کابل تــه هلتــه ښــه ده آرامــي ده
لوی لــوی خلــک هلتــه اوسي ارزاني ده پــرېماني ده

د دوی کشـــره لــور وړه وه پــه نامــه بانــدې ډېــوه وه
و کابــل تـــه يـــې د تللـــو ډېـــره ډېـــره تلوســـه وه

له خوښـی نه يې پر شونډو د خندا ځپه خپره سـوه
تا وې خلاصه دوزخـې تـه لـه جنـت نـه دروازه سـوه

د رســتم ښــځې ويلــه زه کــه ولاړه ســم تربلخــه
د وړو پـــلاره پـــوهېږم راسره ده خپلـــه برخـــه

که کابل لره روان سو هسې نـه چـې سرگـردان سـو
نه به کور نه به ډوډۍ وي په ورتگ به پښېمان سـو

رسـتم وويـل مېرمنـې چـې خـدای راکـړه دا نسـونه
خوراکونـه بـه هـم راکـړي هســې مـه کـوه غمونـه

فيصـله يـې پـه دې وکـړه چـې کابـل لـره روان سي
په دې خيال چې يې سرونه له خطره پـه امـان سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپل کلي را بهر سوه د کابل په لور روان سوه
خو په لاره کې ډېر سترې دا بدمرغه انسانان سوه

رستم وویل مېرمنې هسې مه خوره دزړه وینې
د انسان چې په نصیب وي نو هرو مرو یې وینې

د خپلوانو کور ته ولاړه شپه یې تېره کړه سهار سو
رستم ووتی بازار ته په لټون د کاروبار سو

ټوله ورځ د رستم ښځې له هر چا کول پوښتنه
چې نژدې ستاسې و خواته را پیدا کړئ یوه خونه

چې د توپ او راکټونو له خطره په امان سو
که مو خدای کلی آرام کړ، بیا به کلي ته روان سو

خو یو چا ورلره ورکړه په یو کور کې یوه خونه
چې د څو میاشتو لپاره په دننه کړي سرونه

رستم هر سهار تلی ښار ته مزدوري به یې کوله
شپې او ورځې تېرېدلې روزي خدای ور رسوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــه ســهاره تــر ماښــامه رســتم ســتړی او ســتومان و
د اولادو نفقـــــې تـــــه سرگردانـــــه او ســـــتومان و

یــوه ورځ چــې رســتم راغــی ډېــر ســتومانه و خپــل کــور تــه
دواړه لاس يې په دعـا کـړه د پـاک رب دربـار تـه پورتـه

رسـتم وویـل ای خدایـه! دا زامـن راتـه ځوانـان کـړې
او پـوره مـې پاکـه خدایـه د دې سـوي زړه آرمـان کـړې

نېک عملـه او صـالح يـې لويـه خدايـه راتـه لـوی کـړې
سـتا پـر ديـن او شريعـت مـې برابـره لـور او زوی کـړې

چې له دې ستومانه ژونده څـه دمـه سـم څـه آزاد سـم
چــې دوی وکــړې راتــه گټــې زه د دوی پــه کومــک ښــاد ســم

رســتم ډېــر لــرل ســبا تــه د خــواږه ژونــد امیدونــه
خــو تقــدیر ورتــه کــرلي وه پــه برخــه کــې غمونــه

چــې پــه برخــه يــې هــر څــه وو هغــه ټــول يــې وليدلــه
د ازل کرښــه يــې نــه کــړه پــه تــدبير بانــدې بدلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سهار سو لمر راپوته ددې ځمکې پر آسمان سو
رستم وخوځېد له کوره د خپل کار په لور روان سو

څو شېبې وروسته تر غوږ سوه لړزونکې آوازونه
د هر چا زړه په ټوپو سو، شونډې وچې ژېړ مخونه

ماشومان ټول په ځغستا سوه له کوڅې نه راتله کور ته
د رستم بچیان هم راغله په تلوار و خپلې مور ته

د رستم چې تر غوږ سوه د راکټو آوازونه
بېرته کور له را ستون سو او را تېز یې کړه گامونه

رستم وویل مېرمنې ژر را ټول زموږ واړه کړه
زه به گرمه ډودۍ راوړم چای تیارې دوی ماړه کړه

چې ماښام وږي ویده سوه زړه مې ډېر ډېر نا ارام ؤ
خو په کور کې مو څه نه وو څه مو کړي وای ناکام ؤ

چې رستم له کوټې ووت او له کوره را بهر سو
یوناڅاپه یې پر خونه مزایل را برابر سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسـتم د امیـد خونـه شـنو لوخـوړو کـې سـوه ورکـه
رسـتم چیغـه کـړه پـه زوره او را ولوېـدې پـر ځمکـه

یـودم گـډه واویـلا سـوه لـوی واړه تـول پـه ځغسـتا سـوه
چـا بچـي خپـل تولولـه ځـوک لـه ویـرې پـه ژړا سـوه

چـا رسـتم پـه غېـږ کـې ونیـو او نـارې یـې پـر وهلـې
لکـه مـړی غونـدې پـروت و چـا اوبـه بانـدې شـیندلې

چـا ویـل چـې هلـه ژر سـئ واړه خـاورو نـه بهـر کـړئ
گونـدي ځـوک پکـې ژونـدي وي ژر ډاکتـر بانـدې خـبر کـړئ

گاونـډیان پـه تلـوار راغلـه خـاورې ژر لـرې کـولې
پـه دې خیـال چـې بـه ژونـدی وي او نـارې یـې پـرې وهلـې

د رسـتم بچـي او ښـځه چـې یـې خـاورو نـه بهـر کـړه
تـول ویـده پـه درانـده خـوب وه هـر یـو سـاه و خـدای تـه ورکـړه

د رستم بچي او ښځه دا ځـل ښـکار سـوه د خونخـوارو
د بـــې رحمـــه قـــاتلانو، د لـــوتماره داړه مـــارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې رستم کړي سترګې روښې نه يې ښځه نه بچيان وو
پردي خلک پرې راټول وو نه يې دوست نه يې ياران وو

يو ناڅاپه يې له خولې نه يوه چيغه رابهر سوه
سترګې پاتې سولې وچې خپل بچي يې په نظر سوه

د رستم ټول اميدونه د باروتو به اور وسوه
څراغ مړ او کور يې وران سو، رڼا ورځ وربانديې شپه سوه

د غټانو برخې غټې، د خوارانو برخې خوارې
غټان هرې خوا ته تلای سي، خوار ته بندې ټوله لارې

د رستم په کور محشر سو ټول بچيان يې شهيدان سوه
خاورو وينو باندې لژند، دا ښايسته ښايسته ګلان سوه

پر خوارانو باندې اوري د راکټو بارانونه
خو د دوی د ژوند په بيه جوړوي غټان قصرونه

دلته چا دی اور بل کړی او بيا څوک په کې سوځېږي
چا ګناه او جرم کړی او جزا چاته رسېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رستم وویله خدایه! ما به کړي وي کبرونه
چې یودم دې رانه واخستل د ژوند ښکلي نعمتونه

ده وې خدایه! خدایي ستا ده زما رضا ستا په رضا ده
څه چې ستا له لوري راسي زما قبوله ستا عطا ده

خو دا یوسوال مې قبول کړه اخرت مې خراب نه کړې
ژوند مې ټول په عذاب تېرسو خو د ګور عذاب رانه کړې

شپه په دې ناورین سوه تېره د سوړ ژمي سوړ سهار سو
د رستم له اسوېلو نه د اسمان په مخ غبار سو

لمر ځان پټ کړ په پردو کې پر سینه د اسمان نه و
دا ناورین چې پر افغان و د لیدلو توان یې نه و

چې تیارې جنازې سوې خلکو پورته کړه کټونه
وربځې ورو پرې اوروله جوړ د واورې سپین ګلونه

ځمکې وویل بچیانو راځئ زما غېږې ته راسئ
د بې رحمه انسانانو څه را لرې را جدا سئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی لــه تاســې څخــه واخســتل د ژونــدون خــواږه حقونــه
پــاک الله دې پــر نــازل کــړي لــه آســمانه تندرونــه

دا دنیــا پرېــږدئ و دوی تــه، چــې مــاړه پــرې دا لېــوان سي
خزانې پرېږدئ و دوی تـه چـې ويـده پـر ښاماران سي

ځمکــې خــلاص کــړه د زړه ورونــه، پــه کــې وې ســاتل گلونــه
ويل زمـا د زړه پـه کـور کـې، اوس کـوئ خـواږه خوبونـه

چـې لـه خـوارو څخـه اخـلي خـدای ورکـړي نعمتونـه
هغــه خــدای دې پــر نــازل کــړي بلاگــانې آفتونــه

خدایـه! اوښـکې د مظلومـو ظالمـانو تـه سـېلاب کـړې
د قصـرونو سره يو ځـای ظالمـان پـه کـې غرقـاب کـړې

اوروي چــې څــوک اورونــه، ورانــوي د خــوارو خونــه
دوی مکوټ کړې په دې اور کـې چـې تـرې خـلاص سي عالمونه

(محبــوبي) اول د خلکــو و دردونــو تــه نظــر کــړه
بیا قلـم پـه لاس کـې واخلـه ټـول جهـان بانـدې خبـر کـړه

د قلــم پــه وړه ژبــه د ظــالم ظلــم بيــان کــړه
پـټ يـې مـه سـاته رازونـه و جهـان تـه يـې عيـان کـړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښکلي خوبونه

ما خوب لیده په ژوند کې مو پیدا یوه رڼا سي
تیارې کړي رانه لرې را پیدا یو سپین سبا سي

زړګی مې له غمونو او دردونو څه خالي وي
پتري نیولې شونډې له خوښۍ نه په خندا سي

زما د مړاوو هیلو غوټۍ وسپړي ګلونه
چې زړه مې هر څه غواړي هغه ټول راته مهیا سي

رښتیني یاران ناست وي د ټګانو ټولی نه وي
ټګان له شومو هیلو سره ورک سي او فنا سي

نه اورم له کورو څه فریادونه او کوکارې
نه جنګ وي، نه وژل وي، ورک غمونه او ژړا سي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــه فســق وي، نــه فســاد وي، نــه د خــوارو ځــورول وي
قانون او شریعت پـر تـهـول ملـت حکـم فرمـا سـي

حیرانه سوم چې ښنګه دا ملت خوشحاله ویـنم
له ډېرې خوشـحالۍ ښخـه مـې سـترګې پـه ژړا سـي

په سترګو کې مې ډنډ سوې د خوښۍ او مینې اوښـکې
جـدا سي لـه لېمـو ښـه د ښهـو ښوکـو تـه راسي

په اوښکو مې مخ لوند سو او را پاڅېدم له خوبه
ما ووې خدای رحیم دی ګوندې شپه پر مور سبا سي

لیدلي(محبوبي) دي نن خـوارہ ښـکلي خوبونـه
خالقه له تا غواړي چـې خوبونـه یـې رښـتیا سـي

آسـمان مـو د جنګـو لـه ورېځـو ښخـه پـاک سـي
د سـولې لمـر راپورتـه سي وطـن رڼـا رڼـا سـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ته نه وې

## د مرحوم ډاکټر سید احمدشاه د مړینې د لومړي تلین په مناسبت د هغه مرحوم د مېرمنې له خوا:

زه دې فـراق کـې لکـه شـمع ژړېـدم تـه نـه وې
ټوله سوم اوښکه پر تصویر دې څڅېـدم تـه نـه وې

ستا د بېلتون لمبې مې بلـې وې د زړه په کـور کـې
سر تـر قدمـه سـوځېدم ویلـې کېـدم تـه نـه وې

زه دې د بیا راتلو په طمع وم چـې بیـا بـه راسـې
یا به تلم وره تـه یـا کړکـۍ تـه درېـدم تـه نـه وې

تـا د سـفر لاره بدلـه کـړه جـدا سـوې لـه مـا
زه دې په لټه په کوڅـو کـې گرځېـدم تـه نـه وې

کال دې پوره سو نـه دې وینـم نـه دې ږغ اورمـه
پـر مـا نـاورین و ټولـه کـال وکړېـدم تـه نـه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا وې یـوازې دې د ژونـد سـفر کـې نـه پرېږدمـه
پر دې اغزنـه لار لوېـدم، بیـا پاڅېـدم تـه نـه وې

د وفـا لاس دې راتــه رانــه کــړ یــوازې دې کــړم
زه دې د هجـر پـه دریـاب کـې غرقېـدم تـه نـوې

چې ستا د سترګو ډېوې مړې سوې نو تیاره سـوه پر ما
زه د فـراق تـورو تیـارو کـې اوسـېدم تـه نـه وې

ستا د مرګي ناره چې وسوه نو محشـر سو پـر مـا
نه مې له ځان نه لـه جهانـه خبرېـدم تـه نـه وې

ستا پر مزار باندې مـې خپـور کـړ د خپـل سر پـوړنی
د قبر خـوا نـه دې پـه چیغـو پاڅېـدم تـه نـه وې

تر څو چې مرم پر سر ساتم سـتا د عـزت پـوړنی
ستا له مـزاره (احمدشـاه) رخصـتېدم تـه نـه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتونخوا پښتون ته!

که تـه دلتـه یــې یـا هلتـه یــې پښــتونه!
لـــرم ســـتا سره د مینــــې پیوندونـــه
زمــوږ رګونــو کــې یــوه وینــه بهېــږي
خیر دی دا که مختلف یې وي ګروپونه
احمدشاه، میرویس، اجمل، که خوشحال خان دی
ټول د یو بابا لمسیان بېـل یـې نومونـه
خیر دی ته که د سیند یو خوا زه بل خوا یـم
زمــوږ و یــو بــل تــه رســېږي اوازونــه
کندهار، که ننګرهـار یـا پښــتونخوا ده
دغـــه واړه د یـــوې ونـــې ښـــاخونه
پښــتانه ټــول د پښــتو د بـڼ ګـلان دي
پرې ښایسته ده د آسیا د زړګي خونـه
د غرض خاونـده بېـل بـه سره نـه کـړې
دا د مینـــې پـــه تـــارو تـــړلي زړونـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د مينې وړانګې وځي له فولاد نـه
تـه مـو مـخ تـه ږدې د ختـو دېوالونـه
چې لاسونه د وحدت يو بـل تـه ورکـړو
درکـــوو درتـــه مرګـــوني ګوزارونـــه
نن مې مه کړه پر زخمـي تـن ګوزارونـه
چـــې سـبا بيـا درنـه اخلـم کسـاتونه
که هر څو زمری له ښو نه وي لوېدلی
په تش ګواښ له ګيدړانو بـاسي زړونـه
وروڼو خـدای لپـاره ټولـه سره يـو سـئ
لـه زاړه غليمـه واخلـئ خپـل حقونـه
لا تر څو به لاس تر زنې ور ته ناست يو
وړو به ګور تـه خپـل نيمګـړي ارمانونـه

(محبــوبي) وايــي راځــئ چـــې سره يـــو ســـو
دښـــمنانو تـــه ور نـــه کــــړو فرصـــتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما خطا

ما پــه مينــه و ژونــدون لــره کتلــه
لــه هــر چــا مــې د وفــا طمــع لرلــه

ما وې زه بـه خـوږ ثمـر لـه ژونـده واخلـم
د ژونــد ونــه مــې پــه مينــه لويولــه

ما وې زه به يې له سيوري لاندې کښېنم
د خپــل زيــار ثمــر بــه واخلمــه پخپلــه

چــې تکيـه مـې تـل کولـه پـه مخلوقـاتو
خپــل کــرلي مــې نــن وربېــل پــه خپلــه

څه چې ګورم زمـا د خپلـو کـړو تـاثير دی
نــور بــه نــه کــوم ګيلــه لــه يــو او بلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



آرزوګانې مې لاهو سوې په خړ سیند کې
د امیــد کښــتۍ مــې ورو ورو غرقېدلــه

د هغــې ونــې لــه لښــتو نــه ګــوزار خــورم
کومــه چــې مــا د زړه پــه وینــو اوبولــه

خدای مې هېر کړ له مخلوقه مدد غـواړم
نســته نســته تــر دې لویــه ګنــاه بلــه

(محبــوبي) د هیلــو کــور و ابــاد کــړی
د تقــدیر کاتــب نــور څــه ورتــه لیکلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مرحوم ډاکټر سید احمدشاه
## په یاد

د زړه سر د سـتـرګو تـوره د دردمـن زړګـي ټکـوره
زړه مې غواړي ستا په یاد نـن چیغـې ووهـم پـه زوره

تـه زمـوږ د آرزو بـاغ وې و تیـارو تـه مـو څـراغ وې
سـتا د مـرګ نـاره چـې وسـوه رڼـا ورځ کـې سـوم شـبکوره

دا یـو تنـدر د اسـمان و کـه پـه ځمکـه کـې طوفـان و
سـتا د مینـې کـور یـې وران کـړ هـره خـوا سـوه تیـاره تـوره

څـومره ژر څـومره بـې وختـه د اجـل قاصـدان راغلـه
بیابـان لـره یـې یـووړې او جـدا یـې کـړې لـه کـوره

ستا د ګډ ژوندانـه ځالـه ښنګـه ورانـه سـوه بـې وختـه
ستا د مرګ طوفان پرې راغی ستا مېرمن یـې کـړه سرتـوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــه د پــلار د زړه قــوت وې، تــه د ورور د بــازو زور وې
تـــه د خـــور د زړه تســـل وې ای د مـــور د زړه ټکـــوره

ستا واړه ماشـومان ژاړي خپـل خواخـوږی پلارجـان غـواړي
پـر مېرمنـــې دې مـاتم دی اور پـرې اورې لـه هـر لـوره

د ژونـدون بـاغ تـه دې راغلـه څـه بـې وختـه خزانونـه
ستا د هيلو کاسه مرگ کړه تـورو خـاورو کـې نسـکوره

خويندې ورونه دې دردمن سوه ستا په غم بانـدې غمجـن سـوه
مـور دې هـم پـه غـم غمجنـه ارامـي يـې ولاړه نـوره

د ژونـد سـتونزو کړاونـو سـتړی کـړی و سـتومان دی
خپله غېږ کې يې دمه کړه ځمکې خـدای و روی تـه گـوره

احمدشاه درنه لوگی سم ستا تر قبر دې واری سم
ستا بېلتون راباندې زور سو ځکه راغلم سـتا تـر گـوره

غم دې غر د کوه قاف سو زمـا پـه زړه کـې نـه ځـايږي
(محبوبي) دې کړه غمجنه خوشـحالي يـې ولاړه نـوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غفلت خوب

راځــئ وکــړو لــه خپــل ځانــه تپوســونه
جـــاروو د چـــا لپـــاره خپـــل سرونـــه

غلــيمان ولــې دوســتان راتــه ښــکارېږي
د غلـــيم لمـــن کـــې اچـــوو ځانونـــه

د وطــن د مــور لمــن پــه وينــو سره ســوه
پـــه لمـــن کـــې سره وژني اولادونـــه

دا پــه وينــو کــې چــې لغــړي د چــا سر دی
ولې وژنو خپلـې خوينـدې او خپـل ورونـه

دلتـــه اور د نفـــاقونو چـــا بـــل کـــړی
څـوک مـو اخـلي پـر سرو بانـدې باجونـه

ولــې ولــې لا تــر څــو بــه نــه پــوهېږو
د دښـمن او د دوسـت نـه کـړو توپيرونـه

پـلار نيکونـه مـو د خپـل وخـت مېـړني وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــاتول يــې د دښــمن قــوي فوجونــه

مـوږ ميـراث د پـلار نيکونـو پـر بـل پلـورو
زيـــاتوو خپلـــې کلـــدارې ډالرونـــه

يـو کفـن سره بـه ځـو لـه دې دنيـا نـه
خـو پرېـږدو خپلـو بچـو تـه پېغورونـه

دا څه ژوند چې ځان مو خپل واک يې د بل
دی
د پـــردو پـــه اشـــاره کـــوو مزلونـــه

پـه رڼـو سـترګو ويـده لکـه تصـوير يـو
نـــه منـــزل راتـــه معلـــوم نـــه هدفونـــه

غلـيم مـا پـه تـا او تـا بيـا پـه مـا وژني
خـــړوي اوبـــه او نيســـي خپـــل کبونـــه

مـوږ واحـد ملـت تقسـيم پـر مليتـو کـړ
رانـــه هېـــر ســـوه د نيکونـــو وصـــيتونه

خپل وجود مو په خپل لاس ذرې ذرې کړ
غليمانـــو تـــه مـــو ورکـــړه فرصـــتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولـې هسـې سـوې بـې قـدره زمـوږ وينـې
ولـې هسـې شـان وړيـا سـوه سره لعلونـه

ولــې رحــم پــه يتـيم او كونـډو نــه كـړو
له تور كاڼو څخه سخت سوه زمـوږ زړونـه

نور د خدای(ج) لپاره خوب د غفلت پرېږدئ
د نهضـــت پـــر لـــوري واخلـــئ قدمونـــه

لـه لېمـو څـه كـړئ پـردې د جهـل لـرې
لاس كـــې واخلـــئ د پـــوهنې مشـــعلونه

د غرض لاسونه لنډ كړئ لـه خپـل ملكـه
وطـــن ســـاتئ او ابـــاد كـــړئ اولســـونه

د وحــدت پــه تــوره وركــړئ و غلــيم تــه
ســخت وژونكــي او مرگــوني گوزارونــه

(محبوبي) وايي واكمن پر خپل ملت سئ
يــو ملــت ســئ سره يــو كــړئ مليتونــه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**